د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
The Deputy PM for Economic Affairs Office

# لاسته راوړنې؛

## په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت مهم فعالیتونه



د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
The Deputy PM for Economic Affairs Office

پته: مرمرینه مانۍ، ملک اصغر څلور لارې، کابل ـ افغانستان
ټلیفون: ۰۲۰۲۱۰۷۵۰۰
برېښنالیک: media@dpmea.gov.af
وېبپاڼه: dpmea.gov.af

د افغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

# لاسته راوړني؛

# په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ریاست الوزراء اقتصــادي معــاونیت مهم فعالیتــونه

**ناشر:**

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت - مطبوعاتو ریاست

**ډیزاینر:**

عطاءالرحمن سعید

**پته:** مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلور لارې، کابل ـ افغانستان

**ټلیفون:** ۰۲۰۲۱۰۷۵۰۰

**برېښنالیک:** media@dpmea.gov.af

**وېبپاڼه:** dpmea.gov.af

بسم الله الرحمن الرحیم

# لړلیک


د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال پیغام

سریزه

د ۱۴۰۲ لمریز کال پر مهال په مختلفو سکتورونو کې ترسره شوي کارونه

**لومړی خپرکی**

د کانونو سکتور ........ ۱

مقدمه ........ ۱

د آمو نفتي حوزې د تېلو استخراج قرارداد ........ ۲

د هرات د غوریانو اوسپنې کان ........ ۲

د غور د تولک ولسوالی د سرپو او جستو کان لومړی بلاک ........ ۴

د لوگر ولایت مس عینک دوهم کان ........ ۴

د تخار ولایت د سمتي سرو زرو کان ........ ۴

د کشک –تیرپل نفتي حوزې جیوفزیکي سروې ........ ۵

د خامې مالگې د توريد پروسیجر ........ ۵

د کانونو د ساتنې کړنلاره ........ ۶

**دوهم خپرکی**

د انرژۍ سکتور ........ ۷

مقدمه ........ ۷

آبي برېښنا ........ ۸

کمال خان بند ........ ۸

بخش آباد بند ........ ۹

چک بند ........ ۱۰

ماهوگي بند ........ ۱۱

سلطان ابراهیم بند ........ ۱۱

آغا جان بند ........ ۱۲

لمریزه برېښنا ........ ۱۲

د کابل سروبي ولسوالۍ کې د لس مېګاواټه لمريزې برېښنا توليد پروژه ............ ۱۲
د کابل سروبي ولسوالۍ کې د ۲۲.۷۵ مېګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژه ............ ۱۳
وارداتي برېښنا ............ ۱۴
د شبرغان - دشت الوان د ۵۰۰ کيلوولټ مزي او د دشت الوان سب سټېشن د پراختيا پروژو پرانيسته ...... ۱۴
د دوه سب سټېشنونو او سنګل سرکټ د انتقالي لين پروژې ............ ۱۵

**دريیم څپرکی**

## د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ سکټور ............ ۱۶

مقدمه ............ ۱۶
اوبيز کانالونه ............ ۱۷
د قوشتېپې کانال د لومړي فاز بشپړېدل او د دوهم فاز د جوړېدو چارو پرانيسته ............ ۱۷
شاهي کانال ............ ۱۷
بندونه ............ ۱۸
بخش آباد بند ............ ۱۸
کمال خان بند ............ ۱۸
سلطان ابراهيم بند ............ ۱۹
د ماښوګي بند ............ ۱۹
ځنګلونه ............ ۱۹
کرنيزو توکو ته بازارموندنه ............ ۱۹

**څلورم څپرکی**

## د سوداګرۍ سکټور ............ ۲۱

مقدمه ............ ۲۱
صادرات ............ ۲۳
واردات ............ ۲۴
د ۱۴۰۲ لمريز کال پرمهال په مختلفو ولايتونو کې د سوداګريزو خونو پرانيستل ............ ۲۵
د کورنيو توليداتو لپاره بازارموندنه ............ ۲۶
ترانزيټ ............ ۲۶

**پنځم څپرکی**

## د صنعت سکټور ............ ۲۸

مقدمه ............ ۲۸
صنعتي پارکونه ............ ۲۹

**شپږم څپرکی**

بانکي سکټور ........ ۳۰
مقدمه ........ ۳۰
انفلاسیون ........ ۳۱
د افغانۍ ارزښت ........ ۳۱

**اووم څپرکی**

د ترانسپورټ سکټور ........ ۳۳
مقدمه ........ ۳۳
ځمکنی ترانسپورټ ........ ۳۳
لویې لارې ........ ۳۴
د سالنګ لویه لار ........ ۳۴
کابل – کندهار سړک ........ ۳۵
د کندهار- ارزګان لویه لار (د هېواد جنوب اوشمال نښلوونکی سړک) ........ ۳۵
ښاري سړکونه ........ ۳۶
د کابل شمال- لوېديځ نښلوونکی سړک ........ ۳۶
د خیرخانې مېنې کوتل سړک ........ ۳۶
رېل پټلۍ ........ ۳۷
هوايي ترانسپورټ ........ ۳۷

**اتم څپرکی**

د مخابراتو سکټور ........ ۳۸
مقدمه ........ ۳۸
د ۳۳ مخابراتي سايټونو جوړېدل ........ ۳۹
په ۲۰ ولایتونو کې د افغان ټلیکام خدمتونه ........ ۳۹

**نهم څپرکی**

د زېربنا سکټور ........ ۴۰
مقدمه ........ ۴۰
د نوي کابل د لومړي فاز د دوهم پارسل پروژې پرانیسته ........ ۴۰
د ګلبهار پلازا پرانیسته ........ ۴۱
د افغان ملي ماڼۍ د پاټې چارو پیلېدل ........ ۴۲
د کابل نوي ښار پارک بیارغونه ........ ۴۲

جهان پارک ........ ۴۳
د هرات ولایت د گذرې ولسوالی پروژه ........ ۴۳

**لسم څپرکی**

ملي عواید ........ ۴۴
مقدمه ........ ۴۴
ملي عواید ........ ۴۵

**یوولسم څپرکی**

خواړه او درمل ........ ۴۶
مقدمه ........ ۴۶
درمل ........ ۴۶
خوراکي توکي ........ ۴۷
د ځنباک اوبه ........ ۴۷

**دوولسم څپرکی**

نفوس، کاري ځواک او بې کاري ........ ۴۹
مقدمه ........ ۴۹
نفوس، کاري ځواک او بې کاري ........ ۴۹

**دیارلسم څپرکی**

سیمه‌ییز اتصال ........ ۵۲
مقدمه ........ ۵۲
تاپي پروژه ........ ۵۲
کاسا زر ........ ۵۳
توتاپ ........ ۵۳
تاپ ........ ۵۴
افغان ترانس ........ ۵۴

**څوارلسم څپرکی**

د گاونډیو او سیمې هېوادونو له راغلو پلاوو سره لیدنې ........ ۵۶
مقدمه ........ ۵۶
له محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره د ازبیک پلاوي لیدنه ........ ۵۶
له محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره د قزاقي پلاوي لیدنه ........ ۵۸

د ایران له سفیر سره لیدنه ..................................................... ٦٠
د امریکا-افغانستان د سوداګرۍ خونې له استازو سره لیدنه ..................................... ٦١
د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سره د ازبیک پلاوي لیدنه ..................................... ٦٣


**پنځلسم څپرکی**


کورني سفرونه ..................................................... ٦٥
فراه او هرات ولایتونو ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفر ..................................... ٦٥
هرات ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر ..................................... ٦٧
بلخ ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفر ..................................... ٦٩
د هېواد شمالي (پروان، بغلان او کندز) ولایتونو ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر ..................... ٧١
نیمروز ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفر ..................................... ٧٣
سرپل ولایت ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفر ..................................... ٧۴


**شپاړسم څپرکی**


بهرني سفرونه ..................................................... ٧٦
ترکیې ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفر ..................................... ٧٦
ایران ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفر ..................................... ٨٠
د ایران د ولسمشر له لومړي مرستیال سره لیدنه ..................................... ٨٠
د ایران د بهرنیو چارو له وزیر سره لیدنه ..................................... ٨١
د ایران د ملي امنیت شورا له رییس سره لیدنه ..................................... ٨١
د ایران د کورنیو چارو له وزیر سره لیدنه ..................................... ٨١
د ایران د انرژۍ له وزیر سره لیدنه ..................................... ٨٢
د ایران د کرنې له وزیر سره لیدنه ..................................... ٨٢
په ایران کې د مېشت افغان پانګوالو له لوري په جوړ شوي کنفرانس کې ګډون ..................................... ٨٣
په تهران کې د افغانستان له سفارت څخه لیدنه ..................................... ٨٣
د ایران د ټکنالوژۍ او تخنیک له نندارتون څخه لیدنه ..................................... ٨٣
د چابهار بندر له مسوولینو سره ځانګړې ناسته ..................................... ٨۴
په چابهار نړیوال پوهنتون کې له افغان محصلینو سره لیدنه ..................................... ٨۴
کابل ته راستنېدنه ..................................... ٨۴
د ۱۴۰۲ لمریز کال په جریان کې د ملي تدارکاتو کمېسیون کارونو ته ځغلنده کتنه .......... ٨٦
په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د سوالګرو راټولولو کمېټې کارونو ته ځغلنده کتنه .................. ٨٧

# د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء محترم مقام د تشکیلاتو له مخې درې معاونیتونه لري چې له ډلې یې یو هم اقتصادي معاونیت دی. اقتصادي معاونیت د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه مقام د ۱۴۴۳/۶/۱۶ نېټې د ۲۱م ګڼې فرمان پر بنسټ رامنځته او پر فعالیت یې پیل وکړ.

د اقتصادي معاونیت مشري محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کوي، چې پر دغه معاونیت سربېره د اقتصادي کمېسیون، ملي تدارکاتو کمېسیون او مالي ثبات کمېټې مسؤلیت هم پر غاړه لري، اقتصادي کمېسیون د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه د ۱۴۰۳/۶/۱۶ نېټې د ۲۲مې ګڼې فرمان او د کابینې ۱۴۴۳/۷/۳ نېټې د ۲۳ مې ګڼې مصوبې پر بنسټ رامنځته شوی. چې د مشرتابه مقام له لوري ورته لاندې وزارتونه او ادارې هم اړوندې شوې دي:

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، د مالیې وزارت، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت، د اقتصاد وزارت، د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت، د کانونو او پټرولیم وزارت، د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د ټولګټو وزارت، د کور او ښار جوړولو وزارت، د اوبو او انرژۍ وزارت، د افغانستان بانک لوی ریاست، د مرکزي احصائې او معلوماتو ریاست، د نورم او سټندرد ملي اداره، د پایتخت زون انکشافي اداره او د امارتي شرکتونو مستقله اداره.

د ملي تدارکاتو کمېسیون بیا د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله د ۲۰۲مې ګڼې فرمان پر اساس جوړ شو، چې ټولې ملي او تدارکاتي پروژې او د پروژې اړوند وزارت او اداره یې د مجلس ګډون کوونکي دي. د

ملي تدارکاتو کمېسیون د کاري لایحې له مخې هېڅ وزارت او یا هم اداره نشي کولی چې له ټاکل شوې اندازې په زیات ارزښت په خپله خوښه پروژې تطبیق او یا یې هم د تطبیق په موخه داوطلبۍ ته وړاندې کړي. دوی مکلف دي چې هره لویه او کوچنۍ پروژه د منظورۍ په موخه د ملي تدارکاتو کمېسیون ته راوړي او له دې مرجع لازمه لارښوونه ترلاسه کړي.

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال پیغام

گرانو هېوادوالو!

په افغانستان کې نوي سیاسي تحول دې ته لار هواره کړه چې د افغانستان خلک له سیاسي، نظامي، اقتصادي او فرهنګي نظره خپلې ټولې چارې په خپلواکه توګه په لاس کې واخلي. د سیاسي ثبات تر رامنځته کېدو وروسته اقتصادي وده او پرمختګ مهمه او حیاتي موضوع ګڼل کېږي، چې د یوه هېواد په بیارغونه او ښېرازۍ کې رول لري، ترڅو خلک له فقر، بېکارۍ او تنګلاسۍ څخه وژغوري. په همدې توګه د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي، چې د خپل ولس اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای پر خپلو پرېمانه کورنیو سرچینو متکي کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# سریزه

د افغانستان اسلامي امارت له ۲۰ کلن جهاد او بې سارې مبارزې وروسته بالاخره د ۲۰۲۱ میلادي کال د اګست په ۱۵مه د امریکا او ناټو په لاس جوړه شوې کابل اداره سقوط او کابل يې فتحه کړ. د دغه اجیر نظام په سقوط سره له افغانستان څخه د ناامنۍ، اخلاقي او مالي فساد، بهرنیو استخباراتي کړیو، مفسدو او غلو چارواکو د واک لمن ورټوله او په ټول هېواد کې د امن، سوکالۍ او د بشپړې خپلواکۍ سیوری خپور شو.

د سیمې او نړۍ د مخربو استخباراتي رسنیو او ټولو جاسوسي کړیو د ځرګندونو خلاف د افغانستان اسلامي امارت په ټول هېواد کې بشپړ امنیت تأمین او د واحد مرکزي نظام بنسټ يې کېښود؛ خو امریکا د اسلامي امارت د ضعیفه کولو په موخه پر افغان حکومت سیاسي او اقتصادي محدودیتونه وضعه کړل، چې دغو بندیزونو تر ټولو ډېر عام ولس متضرر کړ.

امریکا د افغانانو ملي شتمني کنګل کړه، د اقتصادي او بانکي سیستم د پاشل کېدو هڅه يې وکړه. خو د افغانستان اسلامي امارت په ځانګړي ډول د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت رهبرۍ له یادو بندیزونو سره سره په هېواد کې د اقتصادي او بانکي وضعیت د کنټرول لپاره شپه او ورځ معقولې هلې ځلې وکړې، چې له نېکه‌مرغه د همدغو هڅو په پایله کې د افغانستان پر اقتصاد او بانکي سکټور وضعه شوي بندیزونه تر ډېرې کچې بې اغېزې ثابت شول.

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له اړوندو سکټوري وزارتونو او ادارو سره په ګډه د آبادۍ، اقتصادي وضعیت د ښه والي، د بېکارۍ کچې په کمولو او همدارنګه خودکفایۍ ته د رسېد په موخه شته امکاناتو ته په کتو شپه او ورځ هڅې کوي، چې تر ډېره يې نتیجه ښه او مثبته ده.

# د ۱۴۰۲ لمریز کال پر مهال په مختلفو سکتورونو کې ترسره شوي کارونه

واک ته له رسېدو را وروسته اسلامي امارت د اقتصادي ودې او ټیکاو لپاره پرته له کوم ځنډ او خنډ چټکې هلې ځلې شروع کړې. د اقتصادي ثبات ترلاسه کولو په موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت له اړوندو سکتوري وزارتونو سره په پوره همغږۍ پر ټولو هغو لویو پروژو کار پیل کړ، چې اقتصادي ارزښت یې زیات دی او هېوادوالو ته د کاري زمینې برابرولو ترڅنګ پر دایمي عایداتي منابعو بدلېدلی شي. د همدې موخې ترلاسه کولو په هدف اقتصادي معاونیت او اړوند سکتوري وزارتونه ټولې پروژې د لومړیتوبونو له مخې اقتصادي کمېسیون او ملي تدارکاتو کمېسیون ته د بحث، د بودیجې د پیدا کولو او همدا راز د رغنیزو چارو پر وړاندې یې د شته ستونزو د له منځه وړلو په موخه وړاندې کېږي او هلته په ګډه بحثونه کوي چې تر مؤثرو لارو چارو پیدا کېدو وروسته شرایطو او اړتیاوو ته په پام سره لازمې پرېکړې او تصامیم یې په اړه نیول شوي دي.

د ۱۴۰۲ لمریز کال پر مهال په لاندې سکتوري برخو کې کاري پرمختګونه شوي، د مهمو او اقتصادي پروژو پرانیسته شوې، د ځینو پروژو نیمګړي کارونه بشپړ شوي او د ځینو د کارونو پر وړاندې یې شته ستونزې له منځه وړل شوې او ځینې پیل شوې پروژې ګټې اخیستنې ته هم سپارل شوې دي.

## لومړی څپرکی

# د کانونو سکټور

### مقدمه

د لومړنیو ترسره شوو سروې‌گانو پر اساس افغانستان د شاوخوا درې ټرېلیون ډالرو په ارزښت طبیعي زېرمې لري. اسلامي امارت د کانونو په سکټور کې پانګونه، په مسلکي ډول د کانونو استخراج او پروسس په خپلو لومړیتوبونو کې نیولي دي. د ۱۴۰۲ لمریز کال په جریان کې د شاوخوا ۲۰۰ بېلا بېلو لویو، متوسطو او کوچني مقیاس کانونو د استخراج او پروسس چارې پیل شوې دي او د لسګونو نورو جیو فزیکي مطالعات جریان لري او د کومو چې بشپړ شوي د هغه د عملي چارو د پیل لپاره پلانونه جوړ شوي.

د ۱۴۰۲ لمریز کال په جریان کې د لسګونو کوچنیو او متوسطو کانونو پر استخراج او پروسس سربېره د ځینو مهمو لوی مقیاس کانونو سروې، اکتشاف او استخراج پیل شوی دی چې په پایله کې یې لسګونو زرو کسانو ته د کار زمینه برابره او په کلني ډول د حکومت خزانې ته په میلیاردونو افغانۍ عواید جمع شوي دي. موږ دلته د هغه لوی مقیاس کانونو د سروې، اکتشاف او استخراج په اړه خبرې کوو چې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له لوري د قراردادونو منظوري ورکړل شوې ده:

## د آمو نفتي حوزې د تېلو استخراج قرارداد

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د قوس میاشتې په ۷مه نېټه په سرپل ولایت کې د آمو نفتي حوزې له ۸ نورو څاګانو څخه د نفتو د استخراج پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، اسلامي امارت د ټولو ولایتونو متوازن پرمختګ ته پاملرنه کړې او دا دي اوس موږ په سرپل ولایت کې د یوې مهمې پروژې د پرانیستې شاهدان یو، چې لومړی ګټه به یې د همدغه ولایت اوسېدونکو ته ورسېږي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له قراردادي شرکت وغوښتل څو د یادې پروژې کارونه د قرارداد مطابق په ښه ډول ترسره او د سرپل ولایت د اوسېدونکو اړتیاوو ته په کتو په دغه ولایت کې عام‌المنفعه پروژې بشپړې کړي. د آمو نفتي حوزې د نویو څاګانو په فعالېدو سره د نفتو د استخراج کچه په ورځني ډول ۱۳۵۰مترمکعب ته رسېدلې.

د یادولو وړ ده چې د ۱۴۰۱ لمریز کال د جدي میاشتې په ۱۵مه نېټه د کانونو او پټرولیم وزارت او چینایي کمپنۍ تر منځ «د آمو نفتي حوزې د تېلو استخراج» قرارداد لاسلیک شو. پانګه اچوونکی شرکت به د دریو کلونو په موده کې ۵۴۰ میلیون ډالره پانګونه کوي او د دغه قرارداد له مخې عملاً په میاشتني ډول د دولت خزانې ته په لسګونه میلیونه افغانۍ عواید جمع کېږي.

## د هرات د غوریانو اوسپنې کان

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۲ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۹مه نېټه د کانونو او پټرولیم وزارت او ګټونکو شرکتونو ترمنځ د ۵.۶۴۶ میلیارد ډالرو په پانګونې سره د هرات د غوریانو اوسپنې کان د څلورو بلاکونو قراردادونه لاسلیک شول.

**لومړی بلاک:** د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د لومړي بلاک قرارداد

د ۲.۸ میلیاردو ډالرو په ارزښت د وطن درخشان او ملي پراختیا شرکتونو سره لاسلیک شو. د دغه قرارداد له مخې به ۱۳ سلنه ونډه اسلامي امارت او پاتې ۸۷ سلنه به قراردادي شرکت ته ورکول کیږي. ددې قرارداد موده ۳۰ کاله ده. قراردادي شرکت مکلف کړل شوی دی چې پر استخراج سربېره به پروسس هم د هېواد دننه کوي.

**دوهم بلاک:** د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د دوهم بلاک قرارداد د ۸۷۴ میلیون ډالرو په ارزښت ساحل شرق میانه ایرانی، دره نور افغاني او ایپکول ترکي شرکتونو سره لاسلیک شو. د دغه قرارداد له مخې به ۱۳ سلنه ونډه اسلامي امارت او پاتې ۸۷ سلنه به قراردادي شرکت ته ورکول کیږي. ددې قرارداد موده ۳۰ کاله ده. قراردادي شرکت مکلف کړل شوی دی چې پر استخراج سربېره به پروسس هم د هېواد دننه کوي.

**دریېم بلاک:** د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د دریېم بلاک قرارداد د ۲۷۲ میلیون ډالرو په ارزښت شمش ملي او GBM او AD Resources انگلستاني شرکتونو سره لاسلیک شو. د دغه قرارداد له مخې به ۱۳ سلنه ونډه اسلامي امارت او پاتې ۸۷ سلنه به قراردادي شرکت ته ورکول کیږي. ددې قرارداد موده ۳۰ کاله ده. قراردادي شرکت مکلف کړل شوی دی چې پر استخراج سربېره به پروسس هم د هېواد دننه کوي.

**څلورم بلاک:** د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د څلورم بلاک قرارداد د ۱.۷ میلیارد ډالرو په ارزښت باختر فولاد افغاني، احیای سپاهان او پارسیان ایراني شرکتونو سره لاسلیک شو. د دغه قرارداد له مخې به ۱۳ سلنه ونډه اسلامي امارت او پاتې ۸۷ سلنه به قراردادي شرکت ته ورکول کیږي. ددې قرارداد موده ۳۰ کاله ده. قراردادي شرکت مکلف کړل شوی دی چې پر استخراج سربېره به پروسس هم د هېواد دننه کوي.

د یادولو وړ ده چې د یادو ۴ قراردادونو د چارو ترسره کولو لپاره په مجموعي ډول ۵ میلیارده او ۶۴۶ میلیون ډالره پانگونه کېږي، چې له استخراج سره به یې په افغانستان کې د اوسپنې صنعت په بشپړ ډول وده وکړي، د ملي عوایدو کچه به لوړه شي او ورسره

به زرګونو کسانو ته کاري زمینه برابره او په ټوله کې به د هېواد په اقتصادي وضعیت کې د پام وړ ښه والی راشي.

## د غور د تولک ولسوالۍ د سرپو او جستو کان لومړی بلاک

د غور د تولک ولسوالۍ د سرپو او جستو کان لومړی بلاک چې مساحت یې ۲۰۷ کیلومتر مربع ته رسیږي، قرارداد یې د ۷۵ میلیون ډالرو په ارزښت له افغان انوېسټ او ایپکول ترکي خصوصي شرکتونو سره لاسلیک شو. د دغه قرارداد له مخې به ۲۰ سلنه ونډه اسلامي امارت او پاتې ۸۰ سلنه به قراردادي شرکت ته ورکول کیږي. ددې قرارداد موده ۳۰ کاله ده. قراردادي شرکت مکلف کړل شوی دی چې پر استخراج سربېره به پروسس هم د هېواد دننه کوي.

## د لوګر ولایت مس عینک دوهم کان

د لوګر ولایت د مس عینک دوهم کان چې مساحت یې ۲۴۵ کیلومتر مربع ته رسیږي، قرارداد یې د ۴۱۱ میلیون ډالرو په ارزښت له چینایي توریا خصوصي شرکت سره لاسلیک شو. د دغه قرارداد له مخې به ۱۲ سلنه ونډه اسلامي امارت او پاتې ۸۸ سلنه به قراردادي شرکت ته ورکول کیږي. ددې قرارداد موده ۳۰ کاله ده. قراردادي شرکت مکلف کړل شوی دی چې پر استخراج سربېره به پروسس هم د هېواد دننه کوي.

## د تخار ولایت د سمتي سرو زرو کان

د تخار ولایت د سمتي سرو زرو کان ۱۲ کیلومتره مربع مساحت لري. د لومړۍ سروې له مخې یې زېرمه ۳۱ ټنه اټکل شوې او قرارداد یې د ۳۱۰ میلیون ډالرو په ارزښت له چینا افغانستان او زړور افغانستان شرکتونو سره لاسلیک شو. د دغه قرارداد له مخې به ۵۶ سلنه ونډه اسلامي امارت او پاتې ۴۴ سلنه به قراردادي شرکت ته ورکول کیږي. ددې قرارداد موده پنځه کاله ده.

## د کشک – تیرپل نفتي حوزې جیوفزیکي سروې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ۱۴۰۲ لمریز کال د وږي /سنبلې میاشتې په ۲۹مه نېټه د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د کشک –تیرپل نفتي حوزې جیوفزیکي سروې په اړه مفصل بحث وشو. تر هراړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه چې کانونو او پټرولیم وزارت دې د کشک –تیرپل احتمالي حوزې د جیوفزیکي سروې قرارداد آزادې داوطلبۍ ته وړاندې کړي. د یادولو وړ ده چې دغه نفتي حوزه د ۲۳ زره کیلومتر مربع مساحت په درلودو سره ټول‌ټال ۱۰ بلاکونه لري چې د هرات او بادغیس ولایتونو ۱۳ ولسوالۍ رانغاړي.

د کشک – تیرپل نفتي حوزې د جیو فزیکي سروې له بشپړېدو وروسته او د عملي چارو په پیل سره به افغانستان د نفتو په برخه کې پر ځان بسیا او په دې برخه کې به زرګونو کسانو ته د کاري زمینې پر برابرېدو سربېره هر کال په میلیاردونو افغانۍ عواید د حکومت خزانې ته جمع کیږي.

## د خامې مالګې د تورید پروسیجر

د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۲ لمریز کال د وري /حمل میاشتې په ۲۸مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د خامې مالګې د تورید پروسیجر په اړه بحث شو، تر هر اړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې افغانستان ته له بهر څخه د خامې مالګې د تورید د جوړ شوي میکانیزم په نظر کې نیولو سره دې د موقت وخت لپاره اجازه ورکړل شي. په ناسته کې کانونو او پټرولیم وزارت ته سپارښتنه وشوه چې څومره ژر ممکنه وي، داسې پالیسۍ او کړنې غوره کړي چې افغانستان د پخې مالګې په برخه کې پر کور دننه منابعو څخه خودکفا شي. د یادولو وړ ده، چې د ۱۴۰۲ لمریز کال په پای کې د پخې مالګې پر وارداتو بشپړ بندیز وضع کړل شو.

## د کانونو د ساتنې کړنلاره

د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۲ لمریز کال د تلې /میزان میاشتې په پنځمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د کانونو د ساتنې کړنلارې په اړه بحث وشو تر هر اړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري د کانونو د ساتنې په موخه جوړه شوې کړنلاره تایید ده او کانونو وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو د عامه ساتنې ملي تصدۍ سره د بحث وړ ټکو په موخه ناسته وکړي. د عامه ساتنې ملي تصدي به په ټول هېواد کې د کانونو د ساتنې په موخه ځانګړې شوې قطعه لا پیاوړې او منظمه کړي، چې له مخې به یې د غیر قانوني او خپلسرو کیندنو مخنیوی وشي.

د اقتصادي کمېسیون له لارې د کانونو د ساتنې کړنلارې له تائیدۍ وروسته اوسمهال په ټول هېواد کې د عامه ساتنې ملي تصدي د ټولو کانونو امنیت ساتي، چې د ډېری کانونو د غیر مسلکي کیندنې او کاني توکو د قاچاق مخنیوی یې کړی.

**دوهم څپرکی**

# د انرژۍ سکتور

**مقدمه**

افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د برېښنا د تولید له پاره پراخې سرچینې لري. په نړۍ کې د برېښنا د تولید له پاره په لومړۍ درجه کې اوبه او ور پسې په ترتیب سره د ډبرو سکاره، یورانیم، تیل او ګاز ځای لري. په افغانستان کې د دغو سرچینو له ډلې یوازې له اوبو څخه هغه هم په ډېره کمه پیمانه ګټه اخیستل شوې؛ خو پاتې نورې سرچینې بې ګټې پاتې دي. د څېړنو له مخې افغانستان کولای شي له اوبو څخه ۲۳ زره میګاواټه، له لمر څخه ۲۲۳ زره میګاواټه، له باد څخه ٦٨ زره میګاواټه او له ګازو څخه ٦۰۰ میګاواټه برېښنا تولید کړي. همدارنګه د نوې کېدونکې انرژۍ د نړیوال مرکز د شمېرو له مخې افغانستان په کال کې شاوخوا ۳۰۰ لمریزې ورځې لري، چې کولای شي په هر لس متر مربع کې یو کیلو واټ لمریزه انرژي تولید کړي. دا راز د دغه هېواد په بېلابېلو برخو کې موسمي بادونه د بادي برېښنا د تولید په برخه کې هم فرصت برابروي. د ۱۴۰۲ لمریز کال په جریان کې د انرژۍ سکتور په برخه کې د یو شمېر پروژو عملي چارې پیل شوې دي چې په بشپړېدو سره به یې تر یوه حده پورې د انرژۍ سکتور کې شته ستونزې حل شي او ورسره به زرګونو

کسانو ته د کار زمینه هم برابره او په کلني ډول به د حکومت خزانې ته په ملیاردونو افغانۍ عواید جمع کیږي.

## آبي برېښنا

### کمال خان بند

کمال خان بند سلګونه کلونه مخکې د نیمروز ولایت د حاصلخیزه ځمکو لپاره اوبه برابرولې. هغه مهال د وخت د حاکم لخوا له پخو خښتو او چونې جوړ شوی و، چې بیا د ګوړ تیمور لخوا د نیمروز نیولو پر مهال ونړول شو، چې له هغې وروسته دا سیمه په وچه دښته بدله شوه. سلګونه کلونه وروسته داوود خان د خپلې واکمنۍ پر مهال تصمیم ونیو چې کمال خان بند جوړ کړي. د دې کار لپاره د اسیا پراختیایي بانک او یوې نړیوالې کمپنۍ د امکان سنجۍ مطالعات ترسره کړل. له واک څخه د داوود خان تر لرې کولو وروسته ان تر ۲۰۱۱ میلادي کال پورې د دغه بند د جوړولو چارې هېرې شوې وې. په ۲۰۱۱ کال کې د اوبو او انرژۍ وزارت له یوه تاجکي شرکت سره قرارداد لاسلیک کړ ترڅو د کمال خان بند لومړنۍ چارې په دریو پړاونو کې پیل او بشپړې کړي. د کابل تېرې ادارې له لورې هغسې چې ټاکل شوې وه د کمال خان بند چارې په ټاکلي وخت کې بشپړې نشوې.

پر افغانستان د اسلامي امارت په بیاځلې واکمنېدو سره د یاد بند نږدې لس سلنه چارې نیمګړې پاتې وې، چې د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي کمېسیون یې د بشپړولو او له نږدې د کارونو لیدو په موخه د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ یو پلاوی ولېږه. یاد پلاوي د کمال خان بند هراړخیزه څېړنه او ارزونه ترسره کړه او د نهایي تصمیم نیونې په موخه یې خپل راپور د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړ.

اقتصادي کمېسیون د راپور تر اورېدو او هراړخیزې ارزونې وروسته د لېږل شوي هیئت وړاندیزونه تایید او پرېکړه یې وکړه، چې د ۱۴۰۲ مالي کال د بودیجې تر توشیح او منظورۍ

وروسته به اړوند وزارتونه او ادارې د کمال خان بند د پاتې چارو د بشپړولو په موخه خپلې چارې ګړندۍ کړي، چې د بودیجې تر توشیح وروسته یې د درېیمې برخې کارونه پیل شوي او په منظم ډول مخ ته ځي. ټاکل شوې چې په نېږدې راتلونکي کې به د کمال خان بند د درېیمې برخې کارونه بشپړ شي.

د یادونې وړ ده چې د کمال خان بند پاتې چارې د ملي پراختیا شرکت له لوري پیل شوې، چې د چارو په بشپړېدو سره به **۵۲** مېلیون مترمکعب اوبه زېرمه او شاوخوا **۹** مېګاواټه برېښنا به تولید کړي.

## بخش آباد بند

بخش آباد بند له فراه سیند څخه سرچینه اخلي. دا سیند بیا د غور له دولینې ولسوالۍ سرچینه اخلي او د افغانستان او ایران ترمنځ هامون ته بهېږي. د اوړي په موسم کې یې اوبه لږ او په وروستۍ برخه کې وچېږي، خو ژمی او پسرلی پرېمانه اوبه او سېلابونه لري. بخش آباد بند د هېواد په کچه یو له مهمو بندونو څخه دی چې د ذخیروي ظرفیت پر اساس تر کجکي بند وروسته د ډېرو اوبو د زېرمه کولو وړتیا لري.

بخش آباد بند د فراه او شاوخوا ولایتونو د اوسېدونکو له اساسي او مهمو اړتیاوو څخه ګڼل کیږي، ددغو سیمو اوسېدونکي د سطحي اوبو له جدي کمښت سره مخ دي چې له امله یې دوی اړ شوي ترڅو د تېرو څو کلونو راهیسې له ځمکې لاندې اوبو څخه د کرنې او څښاک په موخه استفاده وکړي؛ چې دا کار د اوبو په برخه کې د یوې بلې فاجعې لامل کیږي. په **۲۰۰۹** میلادي کال کې یو هندي شرکت د څو نورو کمپنیو په مرسته د بخش آباد بند سروې بشپړه او په **۲۰۱۶** میلادي کال کې یې تفصیلي ډیزاین هم تکمیل شو.

په **۱۳۹۹**لمریز کال کې پر دغه بند کار کولو ته د زمینې برابرولو په موخه د بند له کاسې څخه د اوبو ګرځولو د دوو انحرافي تونلو قرارداد له یوې ترکي کمپنۍ سره وشو، خو په افغانستان کې تر وروستیو سیاسي بدلونونو را وروسته د دغه بند د کانالونو جوړولو

چارې ودرېدې چې د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي کمېسیون د فراه ولس ستونزو او د پراخو کرنیزو دښتو تر کرنیز پوښښ لاندې راوستو په موخه یوې موظفې شوې کمېټې ته دنده ورکړه، څو له نږدې د یاد بند له چارو لیدنه وکړي، ټول اړخونه یې و ارزوي او د تصمیم نیونې په موخه خپل راپور اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

اقتصادي کمېسیون د راپور تر اورېدو او هراړخیزې ارزونې وروسته د لېږل شوي هیئت وړاندیزونه تایید کړل او د ۱۴۰۲ لمریز کال د ثور میاشتې په ۳۰مه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د بخش آباد بند د کانالونو جوړولو چارو د بیا پیل پرانیسته وشوه. محترم ملا صاحب بخش آباد بند د فراه ولسونو لپاره یوه مهمه او حیاتي پروژه یاده کړه او دغو ولسونو ته یې د بشپړولو ډاډ ورکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د فراه ولسونو ته په خطاب کې وویل چې ستاسې ستونزو ته رسېدنه او د بخش اباد په څېر د لویو پروژو پرانیسته چې ستاسې اقتصاد ورسره ښه کېږي، دا زموږ مسوولیت دی او اسلامي امارت پوره هڅه کوي چې په دې برخه کې ستاسې ټولې اړتیاوې پوره کړي.

بخش آباد بند له ښي لوري د ۵۰ کیلومتره او له چپ لوري د ۵۲ کیلومتره کانال په لرلو د ٦٨ زره او ۵۹۰ هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو او همدارز د ۲۷ میګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري چې پیل شوې چارې به یې پر ټاکلې نېټه بشپړې شي.

## چک بند

د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې پر اساس د ۱۴۰۲ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۸مه نېټه د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ د برېښنا بند پاتې چارې پیل شوې. د دې پروژې په بشپړېدو سره به ۳.۹ مېګاواټه برېښنا تولید شي، چې په پایله کې به یې په ۲۴ کلیو کې ۴۰۰۰ کورنیو ته برېښنا ورسیږي.

## ماهوګي بند

د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د۱۴۰۲ لمريز کال د جوزا مياشتې په ۲۷مه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د کنړ ولايت د ماهوګي ولسوالۍ د برېښنا بند د پاتې چارو د بشپړولو په اړه هراړخيز بحث وشو، د بحث په پايله کې پرېکړه وشوه چې ماليې وزارت به د قراردادي شرکت پاتې انوايس ورکوي او قراردادي شرکت مکلف دی چې د ياد انوايس له اخيستلو سره سم د خپلو مقروضينو پيسې هم ورکړي او د بند پاتې چارې هم بشپړې کړي. د کنړ ولايت د ماهوګي ولسوالۍ برښنا بند کارونه ۹۷.۷سلنه ترسره شوي او پاتې چارې به يې په ټاکلي وخت پای ته ورسيږي. دغه بند د ۲.۱ مېګاواټه برېښنا د توليد ظرفيت لري چې ۴۰۰۰ کورنيو ته به د اړتيا وړ برېښنا برابره کړي.

## سلطان ابراهيم بند

د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د ۱۴۰۲ لمريز کال د زمري/ اسد مياشتې په ۷مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د سرپل ولايت د سلطان ابراهيم بند د جوړولو په اړه پرېکړه وشوه چې د دې بند جوړولو لپاره عملي تګلاره جوړه او د نهايي تصميم نيونې په موخه اقتصادي کمېسيون وړاندې شي. له جوړونې وروسته دغه تګلاره اقتصادي کمېسيون ته د منظورۍ لپاره وړاندې شوه، چې له تفصيلي بحث وروسته ياده تګلاره د اقتصادي کمېسيون له لوري منظوره او د ياد بند عملي چارې د ملي پراختيا شرکت له لوري پيل شوې. د يادولو وړ ده چې په سرپل ولايت کې د سلطان ابراهيم بند د جوړولو لپاره ۲۰۰ ميليونه افغانۍ ځانګړې شوې دي. د سلطان ابراهيم بند ۲۰ ميګاواټه برښنا د توليد ظرفيت لري چې په بشپړېدو سره به يې د سرپل ولايت د اوسېدونکو د برېښنا ستونزې تر يو حده پورې حل شي.

## آغا جان بند

د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۲ لمریز کال د زمري/اسد میاشتې په ۷مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د ارزګان ولایت د اغاجان بند د جوړولو په یوه کمېټه مؤظفه وشوه، مؤظف شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې د یاد بند جوړونې په پار تګلاره جوړه او د نهایي تصمیم نیونې په موخه یې اقتصادي کمېسیون وړاندې کړي. له جوړونې وروسته دغه تګلاره اقتصادي کمېسیون ته د منظورۍ لپاره وړاندې شوه، چې له تفصیلي بحث وروسته د اقتصادي کمېسیون له لوري منظوره شوه. اوس مهال د دغه بند پر پاتې چارو کار روان دی، چې په نېږدې راتلونکې کې به بشپړې شي.

## لمریزه برېښنا

افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې په کال کې ۱۰ میاشتې لمر لري، چې له امله یې افغانستان کولای شي په زیاته اندازه لمریزه برېښنا تولید کړي. لمریزه برېښنا د بیا نوي کېدو وړ انرژۍ څخه ده چې هم ارزانه ده او هم چاپېریال ته زیان نه رسوي. د هېواد سویلي، سویل لویدیځو او لویدیځو سیمو او د افغانستان د شمال ځینې سیمې شګلنې دښتې دي چې د کر وړ نه دي او دلته د اورښت کچه کمه او د لمر حرارت زیات دی. که چېرې یوازې د سویلي سیمو څخه د لمریزې برښنا له پاره ګټه پورته شي، نو افغانستان به په کال کې شاوخوا ۱۰۳٦,۵ مېلیونه کیلو ولټه برښنا تولید کړي. د ۱۴۰۲ لمریز کال په جریان کې عملاً د لمریزې برښنا یو شمېر پروژې پیل شوې دي چې په بشپړېدو سره به یې لسګونه میګاواټه برښنا تولید شي. دغه پروژې عبارت دي له:

## د کابل سروبي ولسوالۍ کې د لس مېګاواټه لمریزې برېښنا تولید پروژه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د وږي/سنبلې میاشتې په ۲۸مه نېټه د کابل په سروبي ولسوالۍ کې له نغلو بند سره نږدې د لس مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې د جوړولو چارو پرانیسته وکړه. په

دغو مراسمو کې محترم ملا صاحب وویل، اسلامي امارت دا درک کړې ده چې د پیاوړي اقتصاد درلودو لپاره صنعت او د صنعت د پرمختګ لپاره برېښنا تر ټولو مهمه ده. همدې موخې ته د رسېدو لپاره اسلامي امارت په کور دننه د برېښنا تولید په خپلو لومړیتونو کې نیولی او په ټولو پانګوالو یې غږ کړی، چې په کور دننه د برېښنا تولید په برخه کې پانګونه وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه: «د همدې هڅو په دوام دا دي نن د لس مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې د پیل شاهدان یو. د برېښنا د تولید په برخه کې به د افغانستان اړتیا ته په کتو دا پروژه کوچنۍ ښکاري، خو ما ته خودکفایۍ ته د رسېدو په برخه کې ډېره مهمه ده. دا د دې ښکارندویي کوي چې موږ خودکفایۍ ته د رسېدو په برخه کې لس مېګاواټه د نورو له احتیاجه خلاص شوو.» د لس میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید دغه پروژه د اسلامي امارت په ملاتړ د خصوصي سکټور له لوري د یو کال په موده کې بشپړېږي، چې شاوخوا ۷۰۰ میلیونه افغانۍ پانګونه پرې کېږي.

## د کابل سروبي ولسوالۍ کې د ۲۲.۷۵ مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۲ لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د ۷۷ ترکي او زولرستان شرکتونو له لوري د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د ۲۲.۷۵ مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولیدي پروژې په اړه پر وړاندې شوې طرحه بحث وشو، دغه طرحه له هر اړخیز بحث وروسته تایید شوه. پر دغه پروژه د خصوصي سکټور له لوري ۱۸میلیون ډالره پانګونه کیږي. د دې برېښنایي شبکې له لارې په کال کې ۳۸۸۲۰ مېګاواټه برېښنا تولید شي او د کابل ښار انتقالي شبکې سره به وصل شي. د بند د برېښنا په پارچاو کېدو او د دې لمریزې برېښنا شبکې په مرسته به په ثانیه کې ۴۳۰۰۰ لیتره اوبه ذخیره او سپما کیږي.

## وارداتي برېښنا

### د شبرغان - دشت الوان د ۵۰۰ کیلوولټ مزي او د دشت الوان سب ستېشن د پراختیا پروژو پرانیسته

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۲ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۲۴مه نېټه د افغانستان برېښنا شرکت او افغان انوېسټ خصوصي شرکت ترمنځ د شبرغان - دشت الوان د ۵۰۰ کیلوولټه مزي د پاټې چارو او همدارنگه د دشت الوان سب ستېشن د پراختیا پروژو د بشپړولو موافقتنامې لاسلیک شوې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، د یو هېواد د اقتصادي ودې لپاره صنعت تر ټولو مهم دی، د نړۍ هغه هېوادونه چې له جگړو راوتلي او چټک اقتصادي پرمختگ یې کړی دی، اساسي لامل یې د صنعت پرمختگ دی. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د اسلامي امارت په راتگ سره افغانستان هم د صنعت په برخه کې د پام وړ پرمختگ کړی دی او لا هم هڅه کوي چې په هېواد کې د صنعتي پرمختگ لپاره هر ډول شرایط او زمینه برابره کړي، چې تر ټولو مهم یې برېښنا ده. د یادونې وړ ده چې افغان انوېسټ شرکت به د قرارداد له مخې د شبرغان – دشت الوان دښتې د ۵۰۰ کیلوولټ د برېښنا لین ۲۳.۷ سلنه پاټې چارې چې ۳۰۵.۱۷ کیلومتره اوږدوالی لري، په ټاکلي وخت بشپړوي. تر دې وړاندې د یاد لین ۷۶.۳ سلنه چارې بشپړې شوې دي. دغه راز قراردادي شرکت د الوان دښتې د ۵۰۰ کیلوولټ سب ستېشن د پراختیا پاټې چارو د بشپړولو مسوولیت هم لري. دا پروژې به د قراردادي شرکت له لوري په دوو کلونو کې بشپړېږي چې ټولټال ۳۶ میلیونه ډالره لگښت پرې راځي.

همدارنگه له دښت الوان څخه د کابل تر ارغندۍ سیمې تر څلولارې پورې چې کابو ۱۲۸ کیلومتره لاره کېږي، د برېښنا ۵۰۰ کیلو ولټ لین قرارداد له یو بل کورني شرکت سره لاسلیک شوی دی. دغه پروژه په دوو برخو کې بشپړېږي چې یوه برخه یې له شبرغان

د پلخمري تر خواجه الوان دښتې پورې ده او دوهمه برخه یې له الوان دښتې د کابل تر ارغندی سیمې پورې اوږدوالی لري.

د افغانستان برېښنا شرکت به د شوې هوکړې د څارنې او ارزونې معیارونو له مخې د پروژو د تطبیق، تخنیکي او مالي چارو کره څارنه او ارزونه کوي. د یادو پروژو په بشپړېدو سره به له ترکمنستان څخه افغانستان ته د ارزانه او لوړ کیفیت برېښنا د رالېږد په برخه کې اسانتیاوې رامنځته شي، چې هېواد کې به د برېښنا د کمبود ستونزه تر ډېره حده حل کړي.

## د دوه سب سټېشنونو او سنګل سرکټ د انتقالي لین پروژې

اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۲ لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د هرات ولایت د پل هاشمي سب سټېشن جوړولو، له نورالجهاد سب سټېشن څخه تر پل هاشمي سب سټېشن پورې د ۲۲۰ کیلو ولټ سنګل سرکټ د انتقال لین او په هرات ولایت کې د ۲۲۰ کیلو ولټ موبایل سب سټېشن پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې چې تر هر اړخیز بحث وروسته منظورې شوې. د یادولو وړ ده چې پر یادو پروژو ۲۵ میلیون ډالره پانګونه کېږي، چې په بشپړېدو سره به یې له ترکمنستان څخه ۲۲۰ کیلو ولټ د برېښنا لین له هرات ولایت سره وصل شي.

درېیم څپرکی

# د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ سکټور

## مقدمه

د کرنې سکټور په افغانستان کې د اقتصادي پراختیا لپاره یو بالقوه مهم شاخص هم بلل کیږي. دغه سکټور د کورني ناخالص تولید درېیمه برخه جوړوي او د هېواد د اقتصادي ودې لپاره یو خورا مهم او تر ټولو اغېزناک لامل په توګه پېژندل شوی. د هېواد د نفوس ډېری برخه په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي او تر ډېره بریده په کرنیزو کروندو کې په کار بوخت دي او اکثریت کورنۍ خپل د ژوندانه لومړنۍ اړتیاوې او عواید له کرنې سکټور څخه پوره کوي.

د اسلامي امارت په راتګ سره د دې سکټور د پیاوړتیا لپاره هر اړخیز لنډمهاله او اوږدمهاله پلانونه جوړ شوي، چې په پلي کېدو سره به یې په دې سکټور کې د پام وړ پرمختګ ته زمینه برابره شي.

## اوبیز کانالونه

### د قوشتېپې کانال د لومړي فاز بشپړېدل او د دوهم فاز د جوړېدو چارو پرانیسته

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۲ لمریز کال د میزان میاشتې په ۱۹مه نېټه د قوش‌تېپې کانال د لومړي فاز د گټې اخیستنې او د دوهم فاز د چارو د پیل پرانیسته وشوه. د قوش‌تېپې کانال د هېواد په کچه په شمال کې تر ټولو لویه کرنیزه پروژه ده چې په بشپړېدو سره به یې افغانستان د ډېرو کرنیزو توکو او په ځانگړې توگه د غنمو په برخه کې خودکفا او د اتکل له مخې به بهرنیو هېوادونو ته هم صادرات ولري. دغه پروژه په درېیو فازونو کې ډیزاین شوې چې اوسمهال یې د لومړي فازې چارې بشپړې او د دوهم فاز د جوړېدو چارې یې پیل شوې دي. په دغه لویه او ملي پروژه کې په زرگونو کسانو او همدا راز په زرگونو ماشینرۍ ته د کار زمینه برابره شوې ده. د یادولو وړ ده چې دغه کانال ۲۸۵ کیلومتره اوږدوالی، ۱۰۰ متره سور او ۸.۵ متره ژوروالی لري چې د افغانستان له لومړۍ اوبیزې حوزې (آمو سیند) څخه سرچینه اخلي. د اوبو د دغه کانال په جوړېدو سره به ۵۸۰۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبه او افغانستان به د ډېرى کرنیزو توکو د تولید په برخه کې خودکفا شي. د قوش‌تېپې کانال په اوږدو کې پر کرنیزو ځمکو سربېره په لسگونو تولیدي او کرنیز فارمونه هم په نظر کې نیول شوي دي.

## شاهي کانال

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ۱۴۰۲ لمریز کال د وږي میاشتې په ۲۹مه نېټه د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د لغمان شاهي کانال پروژې په اړه هراړخیز بحث وشو، له بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د دې کانال د جوړولو لپاره دې د ۱۴۰۳لمریز

کال په پراختیایي بودیجه کې پیسې ځانګړې او عملي چارې یې دې پیل شي. د یادولو وړ ده چې د دې کانال په بشپړېدو سره به شاوخوا شل زره هکتاره ځمکه خړوبه او سلګونو کسانو ته به ورسره د کار زمینه برابره شي.

## بندونه

د اسلامي امارت د اقتصادي کمېسیون له لوري د ۱۴۰۲ لمریز کال په جریان کې د هغو بندونو چې پر بریښنا سربېره د زرګونو هکتاره کرنیزې ځمکې خړوبولو وړتیا لري د چارو عملي پیل او بشپړولو منظوري ورکړل شوې ده.

## بخش آباد بند

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د ثور میاشتې په ۳۰مه نېټه د بخش آباد بند د تونلونو جوړولو چارو پرانیسته وکړه. د بخش آباد بند له ښي لوري د ۵۰ کیلومتره او له چپ لوري د ۵۲ کیلومتره کانال په لرلو د ٦٨ زره او ۵۹۰ هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو وړتیا لري چې پیل شوې چارې به یې په نېږدې راتلونکي کې بشپړې شي. اوسمهال د دغه بند د لومړي تونل چارې بشپړې شوې دي او د دوهم هغه کار یې دوام لري.

## کمال خان بند

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون له لوري د اوبو او انرژۍ وزارت ته هدایت وشو، چې د کمال خان بند پاتې چارې په ټاکل شوې نېټه بشپړې کړي. د دغه هدایت وروسته د یاد بند کارونه عملاً پیل شوي دي چې نږدې راتلونکي کې به بشپړ شي. د یادولو وړ ده چې د کمال خان بند پاتې چارې د ملي پراختیا شرکت له لوري پیل شوي چې د چارو په بشپړېدو سره به یې ۵۲ مېلیون مترمکعب اوبه زېرمه، او ۱۷۴۰۰۰زره هکتاره ځمکه به خړوبه کړي.

## سلطان ابراهیم بند

د اقتصادي معاونیت د پرېکړې له مخې په سرپل ولایت کې د سلطان ابراهیم بند چارې عملاً پیل شوې دي. د دغه بند لپاره ۲۰۰ میلیونه افغانۍ ځانګړې شوې دي چې ډیزاین او سروې یې هم بشپړ شوي دي. سلطان ابراهیم بند د ۲۵۰ زره جریبه ځمکې خړوبولو وړتیا لري. په سرپل ولایت کې په سلطان ابراهیم بند سربېره د څلورو میلیونو افغانیو په لګښت د یو بل بند د جوړولو کارونه هم پیل شوي، چې ۷ زره هکتاره ځمکه خړوبوي.

## د ماهوګي بند

د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې پر اساس به مالیې وزارت، په کنړ ولایت کې د ماهوګي ولسوالۍ د برېښنا بند د پاتې چارو د بشپړولو لپاره د قراردادي شرکت پاتې انوایس ورکوي او قراردادي شرکت مکلف دی، چې د دغه بند پاتې چارې بشپړې او پر ټاکل شوي وخت ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## ځنګلونه

د ځنګلونو ساتنې د مخنیوي طرحې عملي تطبیق: د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په مشرۍ د ۱۴۰۲ لمریز کال د وږي میاشتې په ۲۹مه نېټه د اقتصادي کمېسیون له لوري د ځنګلونو ساتنې په موخه جوړه شوې طرحه منظوره کړه او د هغې له مخې ځانګړې قطعه هم جوړه شوه. دغه طرحه اوسمهال د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې عملي شوې ده چې د سلګونو میلیونو افغانیو په ارزښت یې د ځنګلونو له وهلو او قاچاق مخنیوی کړی دی.

## کرنیزو توکو ته بازارموندنه

د کرنیزو محصولاتو د ۲۹م خزانې نندارتون پرانیستل کېدل: د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۲ لمریز کال د میزان میاشتې په ۲۶ مه نېټه د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزانې نندارتون پرانیستل شو. په دغو مراسمو کې د

ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل، افغانستان یو کرنیز هېواد دی او د رسمي شمېرو له مخې، شاوخوا ۶۸ سلنه خلک یې پر کرنه او مالدارۍ مصروف دي، چې متاسفانه لا هم له پخواني کرنیز سیستم استفاده کوي او کوم د پام وړ پرمختګ یې نه دی کړی. د محترم ملا صاحب په خبره، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت مکلفیت لري چې د کرنې د میکانیزه کولو او د اوبولګونې د معاصرو سیستمونو د عامولو او تطبیق په اړه بزګرانو ته تولې اړینې اسانتیاوې رامنځته او په دغه برخه کې کوټلي ګامونه واخلي.

د یادولو وړ ده چې د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزاني نندارتون د کابل په بادام باغ روزنیز او تولیدي فارم کې د کرنیزو محصولاتو د ملاتړ او په کور دننه او بهر کې ورته د بازارموندنې په موخه جوړ شوی، چې په سلګونو غرفو کې بېلابېل کرنیز محصولات نندارې ته وړاندې شول.

په ۱۴۰۱ لمریز کال کې هم د کرنیزو محصولاتو ۲۸م خزاني نندارتون د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شوی وو او موخه یې هم په کور دننه او بهر کې کرنیزو محصولاتو ته بازارموندنه وه. چې په پایله کې یې د میلیونونو افغانیو په ارزښت د خصوصي سکټور تر منځ د بېلابېلو کرنیزو محصولاتو تړونو نه لاسلیک شول.

څلورم څپرکی

# د سوداګرۍ سکټور

## مقدمه

افغانستان د خپل جیوپولیټیک موقعیت له امله په سیمه کې یو مهم هېواد دی او د سیمې هېوادونو ترمنځ د پله حیثیت لري. دا هېواد د تاریخ په اوږدو کې د ختیځ او لوېدیځ ترمنځ د سوداګریزو کاروانونو مهم مسیر پاتې شوی دی او په دې برخه کې په دودیزه توګه د توکو د لېږد رالېږد اړوند اوږده مخینه لري.

پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد او امریکا د یرغلونو له امله په تېرو څه باندې څلورو لسیزو جګړو کې د دې هېواد د نورو برخو په شان د سوداګرۍ برخه هم زیانمنه شوه، د افغانستان غوره صادراتي توکي، لکه غالۍ، ټغر، وچې مېوې، تازه مېوې ... له صادرېدو پاتې شوې، چې له امله یې د دې هېواد اقتصادي وده هم په ټپه ودرېده. د ۱۴۰۰ لمریز کال د زمري په ۲۴مه (۲۰۲۱ د اګسټ ۱۵مه) په افغانستان کې د اسلامي امارت تر واکمنېدو وروسته د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره هڅې پیل شوې، د دې هڅو په لړ کې سوداګري یوه مهمه برخه ده، چې د اسلامي امارت له لوري ځانګړې پاملرنه ورته

کېږي او په تېرو شاوخوا دوو کلونو کې یې د پام وړ پرمختګ کړی دی. په دې موده کې د افغانستان صادرات زیات شول، له صادراتو او وارداتو څخه د راټولېدونکو عوایدو په بهیر کې روڼتیا او سوداګرو ته د سوداګرۍ په برخه کې لازمې اسانتیاوې رامنځته شوې، چې له امله یې د افغانستان د کمزورې سوداګرۍ د پرمختګ بهیر ګړندی شوی دی. د پرمختګ همدا بهیر، په اقتصادي وده کې د صادراتو ارزښت، د اسلامي امارت له راتګ وروسته د افغانستان د صادراتو وضعیت او د هېواد پر اقتصادي وضعیت یې اغېزې هغه موضوعات دي، چې په دې راپور کې ورباندې بحث شوی دی.

د اسلامي امارت په راتګ سره د سوداګرۍ په کچه کې د پخوا په پرتله د پام وړ زیاتوالی راغلی دی چې د تېر ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ لمریز کلونو پر مهال په ترتیب سره د صادراتو کچه ۲ او ۱،۹میلیارد ډالرو ته رسېدلې چې دا رقم د هېواد د صادراتو په تاریخ کې یو بې مخینې رقم دی.

همدارنګه د اسلامي امارت په راتګ سره هڅه شوې چې د اړتیا وړ توکي په کور دننه له شته سرچینو څخه پوره کړي. دا مهال افغانستان د ٦٥ تولیدي اقلامو په برخه کې ځان‌بسیاینې ته رسېدلی دی. خو لاهم هېواد ډېرې داسې توکو ته اړتیا لري چې له بهر څخه یې وارد کړي. په همدې موخه یې له ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو سره سوداګریزې اړیکې پراخې کړې دي.

اسلامي امارت د سوداګرۍ په برخه کې بې شمېره اسانتیاوې رامنځته کړې دي چې عبارت دي له: د صنعت‌کارانو د برېښنا ستونزو حلول، د صنعتي پارکونو پراختیا، د صنعتي خونو جوړول، په خامو موادو د تعرفې کمول، د سړو خونو جوړول، د ملي او نړیوالو نندارتونونو جوړول، د مالیاتي جریمو معافېدل، په ګمرکونو کې د ۲۴ ساعته خدمتونو وړاندې کول، د هوایي دهلېزونو پرانیستل او په ټرانزیټ کې د آسانتیاوو رامنځته کول.

همدا ډول د اسلامي امارت له لوري د سوداګرۍ په برخه کې د پانګونې لپاره زمینه

برابره شوې ده، هغه برخې چې په کې عملي پانګونه شوې او یا هم کېدونکې ده، عبارت دي له: د ترانسپورټ معیاري کول، د ګمرکونو عصري کول، د کرنیزو محصولاتو پروسس او بسته بندۍ مرکزونو جوړول، د توکو د کیفیت د کنټرول لپاره د معیاري لابراتوارونو جوړېدل، د ګودامونو جوړول او د صنعتي پارکونو پراختیا او جوړول.

## صادرات

په ۱۴۰۲ لمریز کال کې اسلامي امارت د صادراتو اهمیت ته په پاملرنې سره په دې برخه کې ګړندي ګامونه پورته کړي دي او پر دې توانېدلی دی، چې د تېرو کلونو په پرتله د صادراتو کچه لوړه کړي. افغانستان د خپلو یو شمېر صادراتي اقلامو له مخې په نړۍ کې شهرت لري، چې ښه بېلګه یې غالۍ دي. افغانستان د تاریخ په اوږدو کې له ګاونډیو، سیمې او د نړۍ له نورو هېوادونو سره سوداګري درلوده او پر مټ یې د هېواد صادراتي توکي صادرول. وچه مېوه لا هم د افغانستان مهم صادراتي توکي جوړوي. ددې ترڅنګ افغاني غالۍ، ټغر او یو شمېر نور افغاني تولیدات د افغانستان د مهمو صادراتي توکو په کتار کې راځي، چې دمګړۍ پاکستان، هندوستان، ازبیکستان، تاجکستان، ایران، متحده عربي اماراتو، چین، ترکیې، قزاقستان، او عراق او ان په نړیوالو بازارونو کې ښه مارکېټ لري. په ټوله کې صادرات د یو هېواد په اقتصادي پرمختګ کې غوښنه ونډه لري او په اقتصادي پرمختګ، د روزګار په کچه او د سوداګرۍ پر بېلانس مثبت اغېز لري. د دې له پاره چې یو هېواد د اقتصادي پرمختګ پړاو ته ننوځي، باید د سوداګرۍ په بېلانس کې یې صادرات له وارداتو زیات وي، ځکه ډېر صادرات د ډېرو بهرنیو اسعارو د ترلاسه کولو لامل ګرځي او د بهرنیو اسعارو زېرمې په نړیوالو بازارونو کې د یوه هېواد د پېر ځواک غښتلی کوي.

د تېر ۱۴۰۲ لمریز کال پر مهال افغانستان د یو میلیارد او ۹۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت ۱۵۰ بېلابېل صادراتي توکي بهرنیو هېوادونو ته صادر کړي دي چې دا د هېواد په تاریخ کې یو بې ساری ګام دی. دغه توکي پاکستان، هندوستان، ازبیکستان، تاجکستان، ایران،

متحده عربي اماراتو، چین، ترکیې، قزاقستان او عراق ته ۹۷ سلنه او پاتې ۳ سلنه توکي د نړۍ نورو هېوادونو ته صادر شوي دي. هغه توکي چې د ټولو صادراتو ۷۶ سلنه جوړوي، هغه انګور، منې، انار، زردالو، پسته، بادام، جلغوزي، وچ انځیر، ممیز، د ډبرو سکاره، هنجه، پنبه، پیاز، رومي بانجان، زعفران، غالۍ،ګلیم او طبي بوټي دي.

## واردات

افغانستان یو مصرف‌کوونکی هېواد دی چې د خپلې اړتیا وړ توکي له ګاونډیو، سیمې او نړۍ له نورو هېوادونو څخه واردوي. واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره هڅه شوې چې افغانستان له وارداتي هېواد څخه په صادراتي هېواد بدل کړي. همدې موخې ته د رسېدو په پار اسلامي امارت په هغو وارداتي توکو چې په کور دننه تولیدېږي له بهرنیو هېوادونو څخه یې په واردېدو مالیه لوړه کړې تر څو په کور دننه صنعت وده وکړي، د صادراتو کچه لوړه، وارداتو کچه کمه او په ټوله کې د صادراتو او وارداتو ترمنځ متوازن بېلانس رامنځته شي.

افغانستان د اړتیا وړ توکي له ایران، پاکستان، چین، متحده عربي اماراتو، ترکمنستان، قزاقستان، ازبیکستان، روسیې، مالیزیا، تاجکستان او د نړۍ له نورو هېوادونو څخه واردوي.

هېواد ته د باکیفته نفتو او ګازو پر واردېدولو ټینګار: د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ۱۴۰۲ لمریز کال د میزان میاشتې په ۲۶مه نېټه د نفتو او ګازو د کیفیت او په دې برخه کې شته ستونزو ته د رسېدو په اړه د اړوندو سکټوري وزارتونو، ادارو او ملي سوداګرو ترمنځ په مرمرینه ماڼۍ کې ګډه غونډه ترسره شوه. د ناستې په پیل کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سوداګرو فعالیتونو ته په اشارې سره وویل چې افغان ملي سوداګرو د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې ارزښتناک رول لوبولی او لا هم په دغه برخه کې خپل فعالیت ته دوام ورکوي. محترم ملاصاحب زیاته کړه، زه له ټولو ملي سوداګرو څخه غواړم چې په خپل کار کې رښتیني و اوسي او

پر نورو توکو سربېره هېواد ته باکیفیته نفت او ګاز وارد کړي څو په دې سره هم چاپېریال او هم د انسانانو روغتیا خوندي شي. د غونډې په پای کې محترم ملا صاحب د نفت او ګازو برخې ملي سوداګرو ته ډاډ ورکړ، چې شته ستونزو ته به یې پر وخت رسېدنه کیږي.

## د ۱۴۰۲ لمریز کال پرمهال په مختلفو ولایتونو کې د سوداګریزو خونو پرانیستل

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې د سوداګرۍ او د سوداګرو ستونزو ته پر وخت د رسېدنې په برخه کې فعالیت کوي. سوداګرۍ خونې په هېواد کې د سوداګرۍ او اقتصاد په پرمختګ کې مهم رول لوبوي. د خصوصي سکټور او امارتي ادارو ترمنځ د اړیکو ټینګول، د بازارموندنې له لارې د افغانستان د صادراتي توکو پرمختګ، د کورنیو او بهرنیو سوداګرو ترمنځ د ستونزو په اړه منځګړیتوب، په افغانستان کې د پانګې اچونې لپاره د کورنیو او بهرنیو پانګه والو هڅونه، د مقدسو ځایونو د جوړولو په برخه کې همکاري؛ د سوداګرو او کسبګرو لپاره د تخنیکي، معلوماتي همکاریو او خدماتو رامنځته کول یې له کاري لومړیتوبونو څخه ګڼل کیږي.

د صادروونکو او واردوونکو سوداګرو رهبري کول، د صادراتي او وارداتي مالونو د ساتلو په موخه مجهز ګودامونه جوړول، د هېواد په دننه او بهر کې د نندارتونونو جوړول، د پرچون خرڅلاو او لږ شتمني درلودونکو سوداګرو حمایه کول، د حمایه کولو طریقې لټول، کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ ته پرمختګ ورکول، په کور دننه د سوداګرۍ په برخه کې د سیمینارونو جوړول او په بهر کې په جوړېدونکو کنفرانسونو او سیمینارونو کې ګډون کول بیا د سوداګرۍ خونې له اساسي دندو څخه ګڼل کیږي.

په بغلان، ارزګان او زابل کې د سوداګرۍ خونو پرانیستل: په بغلان، ارزګان او زابل کې د سوداګرۍ خونو په پرانیستلو سره به له دې ولایتونو څخه د کرنیزو او نورو محصولاتو په صادراتو کې د پام وړ زیاتوالی راشي. د یادو خونو په پرانیستلو سره به د یادو ولایتونو د سوداګرو او امارتي مسوولینو ترمنځ همغږي رامنځته شي او ترڅنګ به یې له نړیوالو

پانگه والو سره د اړيکو دروازه هم پرانيستل شي. همدارنگه د دې خونو په جوړېدو سره به په يادو ولايتونو کې د سوداگرۍ په برخه کې شته ستونزې حل او د دغو ولايتونو توليدات به په ښه کيفيت د گاونډيو، سيمې او نړۍ هېوادونو بازارونو ته صادر شي.

## د کورنيو توليداتو لپاره بازارموندنه

د اسلامي امارت په راتگ سره د کورنيو توليداتو لپاره د بازارموندنې په برخه کې کوټلي گامونه اخيستل شوي دي. په دې برخه کې په کور دننه سربېره په بهر کې بېلابېل نندارتونونه جوړ شوي دي. چې ښې بېلگې يې په چين، قطر، ايران، متحده عربي اماراتو، قزاقستان، ازبيکستان او يو شمېر نورو هېوادونو کې د افغان کرنيزو او توليدي محصولاتو لپاره د بازارموندنې په موخه د نندارتونونو جوړول دي. همدارنگه په کور دننه پر لسگونو کوچنيو او متوسطو نندارتونونو سربېره د امام ابوحنيفه او کابل نړيوال نندارتونونو جوړېدل يې ښې بېلگې دي چې په سلگونو غرفو کې افغاني کرنيز او توليدي توکي نندارې ته وړاندې شوي دي. د ارقامو له مخې په دغو نندارتونونو کې د سلگونو ميليونو ډالرو په ارزښت د خصوصي سکټور ترمنځ مختلف تړونونه لاسليک شوي دي.

د يادولو وړ ده چې نندارتونونه د محصولاتو د معرفي کېدو ترڅنگ د سوداگرۍ د غوړېدو او ودې له پاره تر ټولو غوره لار ده او له دې لارې کولای شو خلکو ته محصولات وړاندې او سوداگر دې ته وهڅوو  چې په دې برخه کې پانگونه وکړي.

همداراز نندارتونونه ددې له پاره جوړيږي چې د يوه هېواد صنعتي او کرنيز محصولات دواړه خلکو ته معرفي شي. حکومتونه هڅه کوي چې د خپلو محصولاتو له پاره په کور دننه او بهر د بازار موندلو په خاطر نندارتونونه جوړ کړي.

## ترانزيټ

په نړيواله کچه د ترانزيت او ترانسپورټ په برخه کې له بېلابېلو شبکو څخه استفاده کېږي چې مهمې هغه يې له ځمکني، سمندري، هوايي او اورگاډي پټلۍ څخه عبارت

دي، دا چې افغانستان په وچه کې پروت هېواد دی او په مستقيم ډول سمندر ته لاره نه لري نو اسلامي امارت په دې برخه کې خپلې هڅې پيل کړې دي تر څو د افغانستان له لارې له مرکزي آسيا څخه سويلي آسيا ته د ترانزيټ په برخه کې آسانتياوې رامنځته کړي. په دې برخه کې لومړی گام د افغانستان له لارې له ترکمنستان څخه پاکستان ته د گاز لېږد و. د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د ۱۴۰۲ لمريز کال د سرطان مياشتې په ۱٦مه نېټه د افغانستان له لارې د ترکمنستان څخه پاکستان ته د گاز او نفتي موادو د ترانزيټ په اړه د ترانزيټ ملي کمېټې له لوري تاييد شوې طرحه د يوې ازمايښتي دورې لپاره منظوره کړه. دغه طرحه د اقتصادي ودې او ترانزيټ د پياوړتيا په موخه جوړه شوې، چې له مخې به يې له مرکزي آسيا څخه سويلي آسيا ته د گازو او نفتي موادو په ترانزيټ کې د پام وړ اسانتياوې رامنځته شي. د افغانستان له لارې د مرکزي آسيا څخه سويلي آسيا ته د گاز او نفتي موادو په ترانزيټ سره به د ملي عوايدو په کچه کې زياتوالی راشي او پردې سربېره به د هېواد د ترانسپورټ سکټور وده وکړي او هېوادوالو ته به د کار زمينه هم برابره شي.

پنځم څپرکی

# د صنعت سکتور

## مقدمه

د اسلامي امارت په راتگ سره د نورو برخو ترڅنگ د صنعت سکتور ته هم ځانگړې پاملرنه شوې ده. اسلامي امارت په هېواد کې خصوصي پانگونه او خصوصي تشبثات هڅولي، ملاتړ یې کړی او خوندیتوب یې تضمین کړی دی. افغانستان اوس مهال کرنیزو محصولاتو، درملو، خوراکي توکو، لاسي صنایعو او یو شمېر نورو برخو کې تولیدات لري.

د افغانستان د صنعت په سکتور کې د پانگونې لپاره زمینه برابره شوې او کورني او بهرني پانگوال کولای شي د کیمیاوي صنایعو، ساختماني توکو، د ماشین جوړولو او فلزاتو صنایعو، د درمل جوړولو صنایعو، د چاپ صنعت، ترکانۍ او کاغذ جوړولو صنایعو، سپک صنایعو، د خوراکي موادو صنایعو او نور بېلابېل صنایعو کې پانگونه وکړي.

## صنعتي پارکونه

صنعت په یوه ټولنه کې د اقتصادي پراختیا لپاره د ملا د تیر حیثیت لري، هر هغه هېواد چې د اقتصاد په برخه کې په خپلو پښو د درېدو هڅه کوي اړ دی چې د صنعت په سکټور کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته زمینه برابره کړي. د همدې موضوع د اهمیت په درک کولو سره د افغانستان اسلامي امارت هم د صنعت په سکټور کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته زمینه برابره کړې ده، چې د ۱۴۰۲ لمریز کال په لړ کې ځینو کورنیو او بهرنیو پانګوالو د صنعت په سکټور کې پانګونې کړې او ډېرې نورو یې لېوالتیا ښودلې ده.

شپږم څپرکی

# بانکي سکټور

## مقدمه

د کابل اداري له ړنګېدو او په ټول هېواد د اسلامي امارت له واکمنېدو سره الحمدلله په هېواد کې جګړې او شل کلن اشغال پای وموند؛ خو له بلې خوا له دغه ستر تحول سره هېواد له یو لړ اقتصادي ستونزو سره مخ او هېوادوال مو په دې تړاو اندېښمن شول او تر ټولو مهمه ستونزه چې سملاسي يې هېوادوال اغېزمن کړل، هغه د امریکا له لوري د افغانستان بانک د ارزي شتمنیو کنګل کېدل و، چې له امله یې د افغانستان بانک د نغدو پیسو له کمښت سره مخ شو او له دې کبله خصوصي بانکونه د پیسو د ورکړې څخه ناتوانه شول، خو د افغانستان بانک او په ټوله کې د افغانستان اسلامي امارت رهبرۍ وکولای شول چې د هېواد بانکي نظام له یادو ستونزو راوباسي او اوس ورځ تر بلې د بانکدارۍ خدمات په هېواد کې نورمال حالت ته روان دي. د یوه هېواد اقتصادي وضعیت نه یوازې دا چې پر نورو سکټورونو اغېزې کوي، بلکې په اوسنۍ نړۍ کې د حکومتونو دوام هم پر اقتصادي وضعیت متکي وي. افغانستان چې اوږد تاریخ لري، هم په مختلفو تاریخي دورو کې په اقتصادي هلو ځلو کې بوخت پاتې شوی؛ خو بیا هم په دغو ټولو تاریخي پړاوونو کې د افغانستان اقتصاد تر ډېره له ناامنیو، کورنیو جګړو او یرغلونو اغېزمن شوی دی.

## انفلاسیون

انفلاسیون یا د پیسو پړسوب، چې په عمومي او دوامداره توګه د بیو لوړوالي ته وايي، هم د تېرو دوه لسیزو راهیسې په افغانستان کې د اقتصاد پوهانو او خلکو له نظره یوه د بحث وړ موضوع او د هېواد یوه اقتصادي ستونزه ده؛ ځکه دا په نېغ ډول د خلکو له ژوند سره تړاو لري. دا چې په افغانستان کې اشغال پای موندلی او د اوږدې جګړې وروسته امنیت تامین شوی دی او د هېواد ډېری زیربناوې، فابریکې، صنعت او زراعتي نظام ته صدمه رسېدلې، نو له دې امله افغانستان په دغه وخت کې په یوه وارداتي هېواد بدل شوی. په ډېره لوړه کچه د وارداتي توکو له راتګ سره په هېواد کې یو ډول وارداتي انفلاسیون رامنځته شوی. د ځینو احصائیوي راپورونو په اساس د تېرو دوه لسیزو په جریان کې په دوامداره توګه باندې د توکو بیې لوړې شوې دي علت یې هم د وارداتو زیاتوالی او د کورنیو تولیداتو کموالی په ګوته شوی، خو په تېر څه باندې دو نیمو کالو کې چې د افغانستان اسلامي امارت د هېواد واګې په لاس کې اخیستې هڅه کوي، چې د کورنیو تولیداتو اندازه زیاته کړي تر څو د وارداتو اندازه کمه شي. په ۱۴۰۲ لمریز کال کې نظر ۱۴۰۱ لمریز کال ته د اجناسو او خدمتونو په وارداتو کې د پام وړ کموالی راغلی دی، چې دا د افغانستان اسلامي امارت د هڅو پایله ده. په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د خوراکي توکو په بیو کې د پام وړ کموالی راغلی دی په داسې حال کې چې په ۱۴۰۱ کال کې د خوراکي توکو په بیو کې ۱۰ سلنه زیاتوالی راغلی و.

## د افغانۍ ارزښت

د تېر ۱۴۰۲ لمریز کال په دوران کې د هېواد پولي واحد د بهرنیو اسعارو پر وړاندې په دوامداره ډول خپل ارزښت لوړ کړ، چې ډېری وخت یې خپل ارزښت د بهرنیو اسعارو خصوصاً د ډالر پر وړاندې باثباته وساته.

اسلامي امارت د تېر ۱۴۰۲ لمریز کال په جریان کې له شته فرصتونو څخه په استفادې سره بانکي سکتور کې شته ستونزو ته په ښه شکل رسېدنه وکړه او له هغه وروسته یې د

افغانۍ ارزښت د بهرنیو اسعارو پر وړاندې ثابت وساته. لامل يې دا و چې په هېواد کې د ټېخوا په پرتله ډاډمن امنیت رامنځ ته شوی او پانګوالو ته د پانګونې زمينه برابره شوې. دغه راز د افغانستان د کورنیو تولیداتو کچه لوړه شوې، بهرنیو هېوادونو ته په صادراتو کې زیاتوالی راغلی، بهرنیو هېوادونو ته د ډالرو د قاچاق مخنیوی شوی، سیاسي ثبات رامنځته شوی، د هېواد په دننه کې په بهرنیو اسعارو بندیز لګېدلی، غوره پولي سیاست پلی شوی، د ونډو له بازار څخه وخت پر وخت افغانۍ راغونډې شوې، نوي بانک‌نوټونه چاپ او زاړه راټول شوي، بشري مرستې او افغانيو ته د تقاضا زیاتېدل نور هغه لاملونه دي چې د افغانۍ ارزښت يې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې لوړ کړی دی.

اووم څپرکی

# د ترانسپورټ سکټور

## مقدمه

افغانستان چې له جغرافیوي پلوه په وچه کې پروت هېواد او بهر ته مستقیم لاسرسی نه لري، نو هماغه دي چې د مالونو او مسافرو د لېږد رالېږد پر مهال ډېری وخت له ځمکني ترانسپورټ څخه کار اخلي. د افغانستان ستراتیژیک موقعیت کولای شي دغه هیواد د سیمې د ترانزیټ پر مرکز بدل کړي، نو له دې کبله ضرور ده چې د هیواد ځمکنی ترانسپورټ د توکو او مسافرینو د لېږد رالېږد لپاره یو له خورا مهمو او اصلي انتخابونو څخه وشمېرل شي. د ځمکني ترانسپورټ سکتور د افغانستان په اقتصادي او ټولنیز ژوند کې ځانګړی اهمیت لري، چې باید د هغه زیربناوو ته جدي پاملرنه وشي.

## ځمکنی ترانسپورت

د افغانستان اسلامي امارت د ترانسپورټ سکټور په خپلو لومړیتونو کې نیولی دی. مؤثر، خوندي او معیاري ترانسپورټي خدمتونو وړاندې کول، د ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره د ترانسپورټي اړیکو پیاوړتیا، د شفاف او حساب ورکوونکو سیسټمونو رامنځته کول، په دغه سکټور کې خصوصي پانګونې ته زمینه برابرول، د عامه ترانسپورټي

زېربناوو پراختیا، د اداري جوړښت اصلاح کول او په دې سکتور کې بنسټیزو اصلاحاتو ته زمینه برابرول یې د کارونو په سر کې ځای لري. عملاً د لویو لارو د بیارغونې کارونه پیل شوي لکه د سالنګ لویه لار، کابل – کندهار سړک، مختلفو ولایتونو ته د غځېدلو سړکونو بیارغونه، پر مرکز سربېره په لویو ښارونو کې د سړکونو جوړول او بیارغونه، د ولایتونو له مرکزونو څخه لرې پرتو ولسوالیو ته د سړکونو غځول او د ولسوالیو له مرکزونو څخه لرې پرتو کلیو او بانډو ته د سړکونو بیارغونه او جوړېدل پیل شوي دي.

## لویې لارې

### د سالنګ لویه لار

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د سالنګونو لویې لارې د بیارغونې چارو پروژه د ۱۴۰۲ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۲۱مه نېټه پرانیستل شوه او د ۱۴۰۲ لمریز کال د قوس میاشتې ۲۹مه نېټه د سالنګ تونل او ۱۶مې ګالرۍ کارونه بشپړ او د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري ګټې اخیستنې ته وسپارل شول. په هغو مراسمو کې چې له همدې امله جوړ شوي وو، د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر مهال وویل، یو ملت په اقتصادي لحاظ هغه مهال پر پښو درېږي او ځان بسیاینې ته رسوي، چې زېربناوې یې جوړې شي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سالنګ لویه لار مهمه وبلله او ویې ویل، د دې لارې اهمیت په دې کې دی چې د هېواد د شمال او سویل د نښلولو ترڅنګ د جنوبي او منځنۍ اسیا هېوادونو له پاره د ترانزیټ په برخه کې مهم رول لوبوي. د یادولو وړ ده، چې د سالنګونو د بیارغونې پروژه په شمالي او جنوبي سالنګونو کې د افغانستان اسلامي امارت په ملاتړ د خصوصي سکتور له لوري د ۸۰ کیلومتره په اوږدوالي سره د دوه کلونو په موده کې بشپړېږي. د سالنګونو لویې لارې په واسطه د هېواد پر ۹ شمالي ولایتونو سربېره څلور لوی سوداګریز بندرونه

له مرکز کابل سره وصلیږي. په دغه لویه لار په ورځني ډول زرگونه مسافر وړونکي او بار وړونکي موټرونه تگ راتگ کوي.

## کابل - کندهار سړک

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د کابل-کندهار سړک له ارغندی څخه د میدان وردگ ولایت تر دوراني بازار پورې سړک د قیر اچونې چارو پروژه د ۱۴۰۲ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۲۴مه نېټه پرانیستل شوه. د یادې پروژې د پرانیستو مراسمو ته محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وویل، موږ له قراردادي شرکتونو څخه غواړو چې یاد سړک څومره ژر ممکنه وي، په ښه کیفیت، پوره صداقت او امانت‌داری سره ورغوي. د یادولو وړ ده چې د کابل-کندهار سړک د بیارغونې چارې په ۷ برخو وېشل شوې دي. دغه سړک د اسلامي امارت په مالي ملاتړ د خصوصي سکتور له لوري رغول کیږي چې په بشپړېدو سره به یې پر دغه سړک تلونکو مسافرو او د سوداگریزو توکو په لېږد کې د پام وړ اسانتیاوې رامنځته شي.

## د کندهار- ارزگان لویه لار (د هېواد جنوب اوشمال نښلوونکی سړک)

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د کندهار - ارزگان د ۲۰۹ کیلومتره سړک د قیر اچونې چارو پروژه د ۱۴۰۲ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۳۰مه نېټه پرانیستل شوه.

د یاد سړک ترمیم او بیارغونه په دوو برخو کې ترسره کیږي چې، لومړۍ برخه یې د ۱۰۸ کیلومتره په اوږدوالي سره له ارغنداب، خاکریز، او نېش ولسوالیو څخه په تېرېدو کندهار له ارزگان سره نښلوي. دغه راز د یاد سړک دوهمه برخه چې ۱۰۱ کیلومتره اوږدوالی لري؛ د ترینکوټ څخه پیل د دهراود ولسوالۍ تر چتو پُل سیمې پورې رسیږي چې عملي چارې یې پیل شوې دي. د یادونې وړ ده چې د یاد سړک په دواړو برخو کې د یو شمېر پُلونو او پلگوتو د ترمیم او بیارغونې کارونه هم شامل دي. د یاد سړک

په بيارغونې سره به د هېوادوالو ترانسپورتي ستونزې تر ډېره بريده حل شي او هېوادوال به وکولای شي چې په تر ټولو لنډه لار د هېواد له جنوب څخه شمال ته په اسانۍ او کم وخت کې تګ راتګ او د توکو تبادله وکړي.

## ښاري سړکونه

### د کابل شمال- لوېديځ نښلوونکی سړک

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمريز کال د جوزا مياشتې په ۲۵مه نېټه په کابل ښار کې د کابل شمال-لوېديځ نښلوونکي سړک پرانيسته وکړه. د دغه سړک د پرانيستې په مراسمو کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د خپلو خبرو پر مهال ووېل، چې د يادې پروژې په بشپړېدو سره به کابل ښاريانو ته ډېر سهولتونه برابر او د ښار ګڼه ګوڼه به ورسره کمه شي. د کابل شمال- لوېديځ نښلوونکی سړک ۷.۵ کيلومتره اوږدوالی او ۳۰متره سور لري چې ۵۳۰ ميليونه افغانۍ لګښت پرې راځي او لګښت يې هم د کابل ښاروالۍ د کورنيو عوايدو له لارې ورکول کېږي.

### د خيرخانې مېنې کوتل سړک

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ۱۴۰۲ لمريز کال د حمل مياشتې په ۲۴ مه نېټه د خيرخانې کوتل سړک د دوهمې برخې د جوړېدو چارو پرانيسته وکړه. محترم ملا صاحب د دې پروژې د پرانيستو مراسمو ته ووېل؛ کابل ښاروالي د ښار د ښکلا او منظموالي په موخه ډېرې هڅې کوي چې د پخوا په پرتله د ښار بڼه منظمه شوې، موږ يې ټولې ترسره شوې هڅې ستايو او پر هېوادوالو غږ کوو چې د عام‌المنفعه پروژو په ساتلو کې له حکومت سره همکاري وکړي. د خيرخانې کوتل سړک دوهمه برخه ۳۷۱۰متره اوږدوالی، ۲۷ متره سور، ۷۸۵۰متره کانکرېټي وياله او د موټرو ۱۱ تمځايونه لري، چې چارې به يې په لسو مياشتو کې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي. پر دغه پروژه ۳۷۰ ميليونه افغانۍ لګښت راځي چې د کابل ښاروالۍ له کورنيو عوايدو ورکول کېږي.

## رېل پټلۍ

د ۱۴۰۲ لمریز کال په جریان کې د رېل پټلۍ له لارې د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره د هېواد نښلولو په برخه کې هم کوټلي ګامونه پورته شوي دي، چې له هغه جملې یو هم د افغان – ټرانس پروژې سروې او مسیر بدلول دي. د دې پروژې په پلي کېدو سره به د سویلي او منځنۍ اسیا پر وصل سربېره د چین او اروپا ترمنځ تر ټولو د لنډ ترانزیټي دهلېز له پاره زمینه برابره شي. د افغان – ټرانس رېل پټلۍ په جوړېدو به د صادراتي او وارداتي توکو په برخه کې د ګڼو سهولتونو د رامنځته کېدو سربېره د کانونو د استخراج په برخه کې هم اسانتیاوې رامنځته شي. له دې لارې به لسګونو زرو کسانو ته د کار زمینه برابره او د ترانسپورټ په برخه کې به د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو ترڅنګ ګڼې اسانتیاوې هم رامنځته شي. د افغانستان اسلامي امارت د سوداګرۍ پراختیا ته ځانګړې پاملرنه کړې او د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو پراختیا یې په لومړیتوبونو کې ده. همدارنګه د رېل پټلۍ په برخه کې پانګونه خورا با ارزښته ده او کولی شي چې د ملي بودیجې ته په لویه کچه د عایداتو سرچینه او د سوداګرۍ په برخه کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته کړي.

## هوايي ترانسپورټ

د کابل-شانګهای هوايي دهلېز پرانیسته: د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د میزان میاشتې په ۱۶مه نېټه د کابل – شانګهای هوايي دهلېز پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې تړاو جوړ شوو مراسمو ته وویل، هغه هېوادونه چې له افغانستان سره د دوه اړخیزو اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پراختیا ته ژمن دي او زموږ له سوداګرو سره ښه چلند کوي، مننه ترې کوو. د یادونې وړ ده چې د دې دهلېز له لارې تر دې مهاله سلګونه ټنه وچه مېوه، کرنیز محصولات او طبي بوټي چین هېواد ته صادر شوي دي.

اتم خپرکی

# د مخابراتو سکټور

## مقدمه

نن ورځ زموږ هېواد کولی شي د صنعتي او نویو صنعتي کېدونکو هېوادونو د پرمختګ په مطالعې او تحلیل سره د دوی په پرمختګ کې د مخابراتو رول درک کړي او په دې برخه کې د عصري او مناسبو ټکنالوژیو په کارولو او غوره کولو سره خپل خدمات لوړ کړي او په ورته وخت کې په بېلابېلو برخو کې خپل لګښتونه کم او د هېواد پرمختګ ګړندی کړي. دا مهال افغانستان د مخابراتو په برخه کې لکه څنګه چې په کار ده پرمختګ نه دی کړی، که په لنډو ووایو چې په دې برخه کې کار به یې کلونه وخت ونیسي، خو ددې له پاره چې د نړۍ له ګړندي پرمختګ سره ملګری شي، اسلامي امارت د هراړخیزو پلانونو په نیولو سره د ۱۴۰۲ لمریز کال په جریان کې د مخابراتو سکټور ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.

اسلامي امارت د مخابراتو سکټور نورو سکټورونو ته ورته په لوړه کچه د هېواد د اقتصادي ودې لپاره په یوه ثابته او دوامداره عایداتي سرچینه بدلوي. د ۱۴۰۲ لمریز کال

کې د هېواد په لرې پرتو سیمو کې د غوره مخابراتي خدمتونو وړاندې کولو په موخه د ۴۵۰ نوي سایټونو جوړولو سربېره د نوري فایبر شبکې پراختیا، د گرځنده موبایلونو د خاص کوډ ثبت پروسه، سیمه‌ییز اتصال او د RTDMS سیستم له لارې د عوایدو راټولول د اسلامي امارت له کاري لومړیتوبونو څخه وو.

## د ۳۳ مخابراتي سایټونو جوړېدل

د ۱۴۰۲ لمریز کال د جوزا میاشتې په ۱۴مه نېټه د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د مخابراتو وزارت او خصوصي مخابراتي شرکتونو ترمنځ لرې پرتو سیمو ته د مخابراتي خدمتونو رسولو قراردادونه لاسلیک شول. د دغو قراردادونو له مخې به خصوصي مخابراتي شرکتونه د کندهار، نورستان، بدخشان، ارزگان، زابل، کنړ، ننگرهار او کابل ولایتونو کې د ۳۳ سایټونو د جوړېدو له لارې په هغو لرې پرتو سیمو کې چې خلک مخابراتي خدمتونو ته لاسرسی نه لري؛ مخابراتي خدمتونه وړاندې کړي.

## په ۲۰ ولایتونو کې د افغان ټلیکام خدمتونه

د اقتصادي کمېسیون له لوري د «افغان ټیلي کام» مخابراتي شرکت چې تر «۲۰» په زیاتو ولایتونو کې خلکو ته خدمات وړاندې کوي، قراردادونه تمدید کړل.

نهم څپرکی

# د زېربنا سکټور

## مقدمه

افغانستان چې د نړۍ د درېیمه درجه هېوادونو په کتار کې راځي د ودانیزو پروژو د جوړولو اړتیا تر بل هر وخت زیاته په کې محسوسيږي. عوامل يې ښکاره دي، د تېرو څو لسیزو له امله د بهرنیو اشغالگرو مداخلې او د هېواد اشغال، جگړې، اداري فساد، لاسپوځې اداري او د سالم مدیریت نشتون هغه عوامل وو، چې افغانستان يې خپل ستراتېژیک موقعیت ته په کتو او د پرېمانه طبیعي زېرمو په درلودو سره بیا هم د نړۍ غریبو او وروسته پاتې هېوادونو په کتار کې درولی دی.

## د نوي کابل د لومړي فاز د دوهم پارسل پروژې پرانیسته

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۶مه نېټه د نوي کابل د لومړي فاز د دوهم پارسل پروژې د جوړېدو چارو د پیل پرانیسته وکړه.

محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د اسلامي امارت مشران ژمن دي چې افغانستان له سیلانو سره سیال کړي او په دې لاره کې نه ستړې کېدونکې هڅې کوي، چې د دې پروژې پیل یې ښه بېلګه ده.

د یادونې وړ ده چې د نوي کابل پروژه د اوسني کابل ښار یو نیم برابر لویه ده، چې د ۳۷۰ زره جریبه مساحت په درلودو سره په څلورو فازونو کې ډیزاین شوې ده. د یادې پروژې د لومړي فاز چارې په ۵ پارسلونو کې په پام کې نیول شوې، چې اوس مهال یې د دوهم پارسل د جوړېدو چارې روانې دي. دغه پارسل په ۷۴۰ جریبه ځمکه کې ډیزاین شوی، چې ۱۲ زرو کسانو لپاره به پکې ۲۳۰۰ هستوګنیز کورونه جوړ شي. د نوي کابل پروژې د لومړي فاز د دوهم پارسل چارې د کور او ښار جوړولو وزارت تر نظارت لاندې د خصوصي ساختماني شرکت له لوري پر مخ وړل کېږي او زرګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابروي.

## د ګلبهار پلازا پرانیسته

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د وري/حمل میاشتې په ۲۷مه نېټه د ګلبهار پلازا رغنیزې پروژې د چارو د پیل پرانیسته وکړه.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې موخه جوړې شوې غونډې ته وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره بشپړ امنیت تأمین شوی او په هېواد کې تر بل هر وخت د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره شوې چې د دغه زېربنا پرانیسته یې یوه ښه نمونه ده.

د یادونې وړ ده چې د ګلبهار پلازا هستوګنیز او سوداګریز مرکز د کابل ښار په نهمه ناحیه کې د خصوصي سکټور لخوا جوړېږي، چې ۳۶۰ هټۍ، څه د پاسه ۳۰۰ هستوګنیز کورونه او شنه ساحه پکې شامل دي. په یاده پروژه ۷۰ میلیون ډالره پانګونه کېږي چې په درېیو کلونو کې به یې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## د افغان ملي ماڼۍ د پاتې چارو پیلېدل

د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۲ لمریز کال د میزان میاشتې په دوهمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او د نورو پروژو ترڅنګ یې د افغان ملي ماڼۍ د پاتې چارو د بشپړولو پروژه هم منظوره کړه.

افغان ملي ماڼۍ د افغان ملي بانک ملکیت ده او په کابل ښار کې موقعیت لري. د دغه ماڼۍ جوړېدو چارې له څه مودې راهیسې ولاړې وې، چې د ۱۴۰۲ لمریز کال په جریان کې بېرته پیل او د ملي پراختیا شرکت له لوري پیل شوې. د یادولو وړ ده چې افغان ملي ماڼۍ ۱۳ پوړونه لري، چې لومړي ۳ پوړونه یې سوداګریز او وروستي ۱۰ پوړونه یې د استوګنې لپاره په پام کې نیول شوي دي. د دې پروژې د پاتې چارو بشپړولو لپاره شاوخوا یو میلیارده افغانۍ په نظر کې نیول شوې دي.

## د کابل نوي ښار پارک بیارغونه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۵مه نېټه د کابل نوي ښار پارک د بیارغېدو چارو د پیل پرانیسته وکړه. د کابل نوي ښار پارک ۹.۹ هکټاره مساحت لري چې د خصوصي سکټور له لوري د شاوخوا ۱.۲ میلیارده افغانیو په پانګونې سره د ۳ کلونو په موده کې په اساسي ډول رغول کېږي. د کابل نوي ښار پارک د بیارغونې په پلان کې تر ځمکه لاندې سوداګریز مرکز، د پارک په څنډه کې سوداګریز کمپلکس، د ښځینه‌وو لپاره ځانګړی سوداګریز مرکز، د فوټسال لوبغالی، تفریحي ځایونه، رسټورانټونه، مسجد، د لامبو حوض او د موټرو لپاره پارکینګ په نظر کې نیول شوي، چې د جوړېدو پر مهال به یې سلګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.

## جهان پارک

د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۲ لمریز کال د میزان میاشتې په ۲۵مه نېټه د سه‌شنبې په ورځ په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. د اقتصادي کمېسیون په دغه ناسته کې د نورو موضوعاتو ترڅنګ د کابل ښار په یوولسمه ناحیه کې د عامه- خصوصي مشارکت له لارې د جهان پارک د جوړولو طرحه تایید شوه. د یادونې وړ ده چې د دغه طرحې له مخې به خصوصي سکتور په ۱۵۰ جریبه ځمکه کې د ۹۶۰ میلیونو افغانیو په ارزښت پانګونه کوي، چې د عوایدو ۳۵ سلنه به کابل ښاروالۍ ته ورکوي. د دغه پارک چارې به په ۳ کلونو کې بشپړې او د ښاري اصولو سره سم به ټول اړین سهولتونه ولري.

## د هرات ولایت د ګذرې ولسوالۍ پروژه

د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د هرات ولایت ګذرې ولسوالۍ د مسافر وړونکو موټرو د ترمینل او فاریاب ولایت د آقینې بندر تیر پارک جوړولو پروژو طرحه د اقتصادي کمېسیون له لوري تایید شوه. د دغې طرحې پر اساس به خصوصي سکټور د ټرانسپورټي اصولو سره سم د شاوخوا دوه میلیارده افغانیو په ارزښت پانګونه وکړي، چې د جوړولو چارې به یې په دوو کلونو کې بشپړې او سلګونو کسانو ته به د کار زمینه برابره کړي.

لسم څپرکی

# ملي عواید

## مقدمه

د اسلامي امارت په بیاځلې واکمنېدو سره عواید د برېښنایي سیستم پر مټ راټولیږي. د عوایدو په راټولولو کې د بشپړ شفافیت تأمین، په گمرکونو کې له غلا او بډې اخیستلو څخه مخنیوی، په گمرکونو کې په دندو د متعهدو کسانو گمارل، په منظمه توگه د کانونو استخراج، د هېواد په داخل کې پانگونې ته زمینه برابرول او بهرنیو هیوادونو ته د صادراتو په کچه کې د پام وړ زیاتوالی هغه موضوعات دي، چې د تېرو کلونو په نسبت په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د کورنیو عوایدو د کچې په زیاتوالي کې رغنده رول لوبولی دی. د عوایدو دا ډول زیاتوالی پر دندو د مسلکي او متعهدو کسانو د گمارلو او د مؤثرو پلانونو عملي کېدو پایله ده، چې دغه کړنې د فساد کچه صفر ته راټیټه کړې او هم یې بشپړ شفافیت رامنځته کړی.

## ملي عوايد

عوايد يو پراخ او جامع مفهوم لري چې د پانګونې او سوداګرۍ ټول فعاليتونه پکې شامل دي او هر ډول اقتصادي چارې عايد رامنځته کوي. عايد هغو پيسو ته ويل کېږي چې يو شخص يا اداره يې د دوی د کار يا محصول په بدل کې ترلاسه کوي. هرڅومره چې په يو هېواد کې د کورنيو عوايدو کچه لوړه وي، په همغه اندازه به د خلکو د ژوند سطح لوړه او د بېکارۍ کچه به ټيټه وي. همدارنګه د عوايدو د کچې لوړوالی د يو هېواد په اقتصادي وده او ثبات کې مهم او رغنده رول لري.

یوولسم څپرکی

# خواړه او درمل

## مقدمه

خواړه او درمل د بشري ټولنې له بنسټیزو اړتیاوو څخه ګڼل کېږي او چمتو کول یې ضرورت دی. د ټولنې له پاره د باکیفیته خوړو او درملو برابرول د حکومتونو او متخصصانو یو ستر مسوولیت دی. دا توکي هغه مهال د انسان له پاره ګټور تمامېدای شي چې بې کیفیته او ککړ نه وي، له دې پرته دا ټول توکي د انسانانو له پاره روغتیایي ستونزې را ولاړوي او داسې زیانونه ټولنې ته په میراث پرېږدي چې بیا یې جبران ستونزمن، څه چې ناممکن وي. د خوراکي توکو او درملو د کیفیت کنټرول موخه دا ده څو هغه فزیکي، کیمیاوي او بیولوژیکي خطرونه و نه لري چې هغه د انسان روغتیا ته ضرر رسوونکي دي. اسلامي امارت د دې موضوع اهمیت ته په کتو په دې برخه کې کوټلي ګامونه اخیستي دي.

## درمل

هېواد ته واردېدونکي درمل: د کابل تېرې اداري پر مهال د پراخ فساد له وجې هېواد ته مختلف بې کیفیته درمل د اصلي درملو په نوم واردېدل. مافیایي کړیو او زورواکانو د خپل جیب ډکولو په موخه د درملو له واردونکو شرکتونو او اشخاصو ملاتړ کاوه، چې په دې

ډول یې د هېواد پر روغتیایي سکټور یو بې انصافه تجارت روان کړی و.

له کله چې د افغانستان اسلامي امارت واک ته رسېدلی، هېوادوالو ته یې په بېلابېلو برخو کې د ژوند د اړینو اسانتیاوو برابرولو ترڅنګ هېواد ته د واردېدونکو درملو کیفیت او قیمت ته هم جدي توجه کړې. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون د ۱۴۰۲ لمریز کال د حمل میاشتې په ۲۴مه نېټه په خپله نوبتي غونډه کې د خوړو او درملو ملي ادارې ته دنده وسپارله، څو په عاجله توګه افغانستان ته د غیر قانوني او بې کیفیته خوړو او درملو د تورید او بېلتیو د مخنیوي په موخه یوه جامع کړنلاره جوړه او د تائید لپاره څومره ژر چې ممکنه وي، اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي، د تاکل شوې مودې سره سم کړنلاره جوړه او د اقتصادي کمېسیون له لوري منظوره شوه.

اقتصادي کمېسیون له دې منظورۍ وروسته د خوړو او درملو ټول واردوونکي او په کور دننه تولیدوونکي شرکتونه مکلف وګرځول چې د یوې نیمې میاشتې په اوږدو کې خپل ټول واردات او تولیدي فعالیتونه د خوړو او درملو ملي ادارې له اصولو سره سم کړي. همدا راز، د خوړو او درملو ادارې په مشرۍ د استخباراتو لوی ریاست، د صنعت او سوداګرۍ، مالیې او کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ له وزارتونو څخه یوه کمېټه جوړه او دنده ورته وسپارل شوه چې د خوړو او درملو د کیفیت د کنټرول او نورو اړونده چارو لپاره په ګډه کار وکړي.

## خوراکي توکي

### د ځښاک اوبه

د پرله‌پسې وچکالیو او د اوبو په مصرف کې د خلکو د بې پروایۍ له امله په ټوله نړۍ کې د اوبو کمېدو خطر مخ په زیاتېدو دی. افغانستان هم یو له هغو هېوادونو څخه دی چې نه یوازې د کرنې لپاره د کافي اوبو د نشتون له خطر سره مخ دی، بلکې د کابل په څېر په ګڼ نفوسه ښارونو کې ورځ تر بلې د ځښاک اوبو خطر هم د ښاریانو ژوند ګواښي.

کابل چې د افغانستان مرکز او د نورو ولایتونو په پرتله ګڼ نفوسه ښار دی، ورځ تر بلې پکې د ځښاک اوبو خطر مخ په زیاتېدو دی چې دې چارې ډېری کابل ښاریان اندېښمن کړي دي. دغه ستونزه نه یوازې د وچکالیو له امله رامنځته شوې، بلکې په ډېرې بې پروایۍ سره د معدني اوبو او غیر الکولي مشروباتو د تولیدوونکو شرکتونو له لوري د کابل ښار په زړه کې د ژورو څاګانو ایستلو او بیا په ډېرې بې انصافۍ سره له هغو د اوبو را ایستلو دا ستونزه څو برابره جدي کړې ده.

اقتصادي کمېسیون دا ستونزه درک کړې او د حل لپاره یې د ۱۴۰۲ لمریز کال د حمل میاشتې په ۲۸مه نېټه په خپله نوبتي غونډه کې پرېکړه وکړه، چې اوسمهال دې یاد شرکتونه او تولیدي فابریکې له ژورو څاګانو څخه د اوبو را ایستل بند کړي او د کابل ښار د اوبو تولې اړتیاوې دې له کابل ښار څخه بیرون د اوبو له طبیعي سرچینو څخه تأمین کړي. په همدې موخه د اقتصادي کمېسیون له لوري د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ یوې جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې د یو کال په موده کې له کابل ښار څخه بیرون په یو مناسب ځای کې د معدني اوبو او غیر الکولي مشروباتو تولیدوونکو شرکتونو او فابریکو او همدارنګه د شنو خونو د ځای پرځای کولو لپاره دې یوه جامع طرحه جوړه او د تاییدۍ لپاره یې د اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

دوولسم څپرکی

# نفوس، کاري ځواک او بې کاري

## مقدمه

د نفوس حجم، د زیاتېدو وده او جوړښت يې په اقتصادي او ټولنيز پرمختګ کې مهم رول لوبوي. له همدې ځايه ده، چې د وګړو په تړاو احصايې د پرمختيايي پلان جوړونې، د اقتصادي تګلارو چارچوب جوړولو او ودې او پرمختګ ښودونکې دي.

## نفوس، کاري ځواک او بې کاري

د هېواد د ټولو وګړو شمېر په ۱۴۰۲ کـال کې ۳۴،۹ مـیلیون تنه اټکل شـوی دی، له دې ډلې څخه ۱۷،۸مـیلیون تنه نارینه چې ۵۱،۰ سلنه جوړوي او ۱۷،۱مـیلیون تنه ښځینه چې ۴۹،۰سلنه جوړوي. په ۱۴۰۲ کـال کې د هېواد د ۳۴،۹ مـیلیون تنو وګـــړو له ډلې څخه ۲۴،۶مـیلیون تنه په کلیوالي ساحو کې ژوند کوي، چې ۷۰،۵ سلنه د ټول نفوس جوړوي، ۸،۸ مـیلیون تنه په ښاري ساحو کې ژوند کوي چې د ټول نفوس ۲۵،۲سلنه جوړوي او پاتې ۱،۵مـیلیون تنه کوچیان دي چې د ټول نفوس ۴،۳ سلنه تشکیلوي.

د افغانستان د احصایې او معلوماتو ملي ادارې د شمېرو له مخې د افغانستان د ټول نفوس ۵۴ سلنه له ۱۵ کلنۍ څخه پورته دي او پاتې ۴۶ سلنه یې بیا ترې ښکته دي. له همدې کبله ده، چې افغانستان په نړۍ کې یو له تر ټولو ځوانو ملتونو څخه ګڼل کېږي او همدغه نفوس بیا د کاري ځواک د حجم په زیاتولو کې هم مهم رول لوبوي. د تېرو شلو کلونو په جریان کې د اشغال له امله په اساسي ډول هېوادوالو ته د کار زمینه نه وه برابره شوې چې له امله یې ورځ تر بلې د کاري ځواک حجم زیاتیږي او ورسره جوخت د بې کارۍ کچه هم لوړه شوې ده.

اسلامي امارت هڅه کوي، چې د بې کارۍ کچه راټیټه، خلکو ته د کار زمینه برابره او هغو ځوانانو ته په کور دننه د کار زمینه برابره کړي چې اوسمهال په ناقانونه ډول له هېواده وځي. اسلامي امارت د اقتصادي پرمختګ او د بې کارۍ کچې راکمولو له پاره عملي ګامونه پورته کړي دي.

په هېواد کې د شاوخوا ۲۰۰ کوچنیو، متوسطو او لویو کانونو د استخراج او پروسس چارې رواني دي. ددې کانونو له جملې څخه په دې وروستیو کې د هرات د غوریانو د اوسپنې کان، د غور د تولک د سرپو کان، د لوګر د مس عینک دوهم او د تخار سمتي سرو زرو کانونو قراردادونه له ګڼونکو شرکتونو سره لاسلیک شوي چې پر افغان شرکتونو سربېره یې د سیمې او اروپایي هېوادونو شرکتونه هم ونډوال دي. د ډېرو سکرو د کانونو په ګډون چې عملاً یې د استخراج او پروسس چارې رواني دي لسګونو زرو کسانو ته پکې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده.

د زېربناوو جوړولو په برخه کې کولای شو د بېلګې په ډول د کابل-کندهار، سالنګونو، کندهار - ارزګان، هرات - غور لویو لارو بیارغونې سربېره د زیاترو ولایتونو ولسوالیو ته د غځېدلو سړکونو جوړول او بیارغونه او په هېواد کې د قوش تېپې کانال، بخش آباد، شا و عروس، کمال خان او په ټول هېواد کې د لسګونو کوچنیو، متوسطو او لویو بندونو او

کانالونو جوړولو چارو پیل ته اشاره وکړو، چې په دې برخو کې هم لسګونو زرو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده.

د یادولو وړ ده چې د ملي تدارکاتو کمېسیون په نوبتي ناستو کې د لسګونو پروژو منظوري ورکړل شوې ده چې له دې لارې هم زرګونو هېوادوالو ته کاري زمینه برابره شوې.

دغه راز اسلامي امارت په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د امارتي تشکیلاتو کچه زیاته کړه او له مخې یې لسګونه زره نوي کسان په دندو ګومارل شوي دي.

همدارنګه اسلامي امارت په کور دننه د برېښنا تولید، د کرنې میکانیزه کول، د صنعت سکټور کې بنسټیز اصلاحات او پانګونه، د ترانسپورټ سکټور معیاري کول، د مخابراتو سکټور پراختیا، برېښنایي حکومتولي، د سوداګرۍ زیاتېدل او سیمه‌ییز اتصال په خپلو لومړیتوبونو کې نیولي او په دې برخو کې یې د کورنیو او بهرنیو پانګوالو په ملتیا لسګونو زرو هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول کاري فرصتونه برابر کړي دي.

دیارلسم څپرکی

# سیمه‌ییز اتصال

## مقدمه

اسلامي امارت د هېواد ستراتيژيک موقعيت ته په کتو هڅه کوي چې له انرژۍ څخه غني مرکزي آسيا له ستونزو سره مخ سويلي آسيا سره ونښلوي. د انرژۍ دغه پروژې چې د افغانستان له لارې تېرېږي؛ د تاپي، کاسا زر، توتاپ او تاپ پروژې دي چې په نږدې راتلونکي کې به يې عملي چارې پيل شي.

د دې پروژو په بشپړېدو سره به له يوې خوا د افغانستان او له بل لوري به د سويلي آسيا هېوادونو د انرژۍ کمبود پوره شي. د دې ترڅنګ به په هېواد کې کاري فرصتونه رامنځته، اقتصادي وده به ګړندۍ او د ترانزيټي فيس له مخې به د ملي عوايدو لپاره ښه سرچينه پيدا شي.

## تاپي پروژه

د تاپي نلليکه ۱۸۱۴ کيلومتره اوږدوالی او ۵۶ انچه قطر لري، چې له ترکمنستان څخه پيل او د افغانستان له هرات، فراه، نيمروز، هلمند او کندهار ولايتونو څخه په تېرېدلو سره

لومړی پاکستان او په پای کې هند ته رسیږي. د دغه نل‌لیکې مجموعي ظرفیت په یو کال کې ۳۳ میلیارد متر مکعب گاز دی.

اسلامي امارت د تاپي پروژې د عملي چارو د پیل لپاره په هېواد کې دننه امنیتي ستونزې په بشپړ ډول له منځه وړې، د دې پروژې په مسیر کې د اړوندو ځمکو د استملاک چارې روانې دي او د افغان – ترکمن گډو ادارو ترمنځ همغږي او گډ کار ته زمینه برابره شوې ده. د تاپي پروژې د عملي چارو د ژر پیل په موخه د افغانستان او ترکمنستان د تخنیکي ټیمونو ترمنځ په دې اړه څو ځلې ناستې ترسره شوې او په ډېری برخو کې پرمختگونه رامنځته شوي دي.

د یادولو وړ ده چې افغانستان به د دې پروژې له لارې هر کال کابو ۵۰۰ میلیون ډالره د ترانزیټ او کله چې د تاپي پروژه بشپړه شوه، نو تر لسو کلونو به ۵۰۰ میلیونه مترمکعبه گاز او تر شلو کلونو پورې به یو میلیارد مترمکعب گاز ترلاسه کوي. د دې پروژې له لارې به زرگونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي.

## کاسا زر

کاسا-۱۰۰۰ له قرغیزستان او تاجکستان څخه افغانستان او پاکستان ته د برېښنا لېږد پروژه ده، چې عملي چارې به یې په نږدې وخت کې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ پیل شي. د دې پروژې په پایله کې به افغانستان هر کال له پاکستان څخه له ۳۰ څخه تر ۴۰ میلیون ډالرو ترانزیټي فیس ترلاسه کړي.

## توتاپ

توتاپ پروژه به ترکمنستان-ازبکستان-تاجکستان-افغانستان-پاکستان د برېښنا په یوه حلقه کې سره ونښلوي او له امله به یې دا زمینه برابره شي، چې افغانستان د برېښنا متحده شبکه ولري او د سینکرونایزیشن (Synchronization) ستونزه به هم حل شي.

## ټاپ

ټاپ پروژه له ترکمنستان څخه افغانستان او پاکستان ته د برښنا لیږد یوه له مهمو پروژو څخه ده، چې هر کال به د دې برېښنا د ترانزیټ له پلوه افغانستان ۱۱۰ میلیونه ډالره ترلاسه کوي او همدا راز په هرات، فراه او کندهار کې به هم درې سب‌سټیشنونه جوړ شي.

د یادونې وړ ده چې د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په رهبرۍ او د اړوندو ادارو په ملتیا د کاسا زر، تیوټاپ او ټاپ پروژو د پیل لپاره هڅې روانې دي چې په نېږدې راتلونکي کې به یې کارونه پیل شي.

## افغان ټرانس

د افغانستان اسلامي امارت د افغان - ټرانس پروژې پلي کېدو ته ژمن دی او د یادې پروژې د سروې چارې پای ته رسیدلې دي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغان ټرانس پروژې د پیل په اړه څو ځلې له ازبیک پلاوي سره ناستې کړې دي د دغو ناستو په جریان کې افغان لوري د پروژې ښکېلو لورو ته د پروژې د عملي چارو په برخه کې له خپل لوري ډاډ ورکړی دی او له دوی یې غوښتي چې د دې پروژې د عملي چارو په پیل کې خپل مسوولیتونه ترسره کړي.

د یادې پروژې ابتدایي ساحوي سروې د افغانستان په خاوره کې د افغانستان، ازبیکستان او پاکستان د اوسپنې پټلۍ ادارو د تخنیکي ټیمونو له لوري پای ته رسېدلې ده. د دې پروژې مجموعي لګښت شاوخوا ۵ میلیارده ډالر اټکل شوی دی. د افغان – ټرانس پروژې په پلي کېدو سره به د سویلي او منځنۍ اسیا پر وصل سربېره د چین او اروپا ترمنځ تر ټولو د لنډ ترانزیټي دهلیز له پاره زمینه برابره او د افغانستان د کانونو د استخراج په برخه کې به اسانتیاوې رامنځته کړي. له دې لارې به سلګونو زرو کسانو ته د کار زمینه برابره او د ترانسپورټ په برخه کې به ګڼ کاري فرصتونه رامنځته شي.

د یادولو وړ ده چې د افغان – ترانس پروژې په پلې کېدو سره به د سوداګریزو توکو د لېږد رالېږد لګښت تقریبا تر ۴۰ سلنې را کم شي او په کم وخت کې به مطلوب ځای ته لېږدول کیږي.

خوارلسم څپرکی

# د ګاونډیو او سیمې هېوادونو له راغلو پلاوو سره لیدنې

## مقدمه

### له محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره د ازبیک پلاوي لیدنه

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د منځنۍ اسیا هېوادونه او په ځانګړې ډول ازبیکستان د افغانستان اسلامي امارت سره د سیاسي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا په هڅه کې دی. ازبیک حکومت دا درک کړې چې واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره په افغانستان کې یو مرکزي او واحد نظام واک ته رسېدلی چې په پوره مانا د افغانانو استازیتوب کوي. دوی دا هم درک کړې چې پرمختللی او اقتصادي افغانستان تر بل هر چا ډېر د ازبیکستان په ګټه دی، ځکه په افغانستان کې د سیاسي ثبات ټینګېدلو، د افغان-ازبیک سوداګریزو اړیکو پراختیا او په افغانستان کې په مختلفو برخو کې د ازبیک پانګوالو له لوري پانګونه د دغه هېواد په ګټه ده. دوی ډېر په جرئت او بې پرې ډول حتی پر نړیوالو سټیجونو هم له افغانستان سره پر تعامل او د اړیکو پر پراختیا تاکید کړی دی

او د سیمې هېوادونو په ګډون یې د نړۍ هېوادونو ته هم بلنه ورکړې، چې پر افغانستان باندې د بندیزونو وضعه کولو پر ځای، دوه اړخیز تعامل ته را وړاندې شي.

ازبیکستان د همدې پالیسۍ په غوره کولو سره له افغانستان سره دوه اړخیز سیاسي او اقتصادي تعامل ته را وړاندې شوی دی او په دغه برخه کې څو ځلې د دواړو لورو د لوړ رتبه چارواکو له لوري رسمي سفرونه هم شوي دي، چې ښه بېلګه یې د ۱۴۰۲ لمریز کال د حمل میاشتې په لومړۍ نېټه د ازبیکستان د ملي امنیت شورا سلاکار او په بهرني سیاست کې د دغه هېواد د ولسمشر ځانګړي استازي عبدالعزیز کاملوف په مشرۍ له راغلي پلاوي سره د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لیدنه ده.

د یادې لیدنې پر مهال دواړو لورو د سیاسي، اقتصادي، ترانزیټي او سوداګریزو اړیکو پر پیاوړتیا، په یادو برخو کې د ستونزو پر له منځه وړلو او د نویو اقتصادي او کاري فرصتونو پر رامنځته کېدو ټینګار وکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان جغرافیوي موقعیت ته په کتو وویل چې که له دغه ستراتیژیک موقعیت څخه ښه استفاده وشي، دا به د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ په سوداګرۍ او ترانزیټ کې مهم رول ولوبوي. محترم ملا صاحب د همدې لیدنې پر مهال ازبیک لوري ته ډاډ ورکړ چې افغانستان له ټولو ګاونډیو هېوادونو او په ځانګړي ډول له ازبیکستان سره د خپلو سیاسي او اقتصادي اړیکو پراخولو او په دغه برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دی.

ازبیک لوري واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره په افغانستان کې له راغلو مثبتو تحولاتو لکه سرتاسري امنیت، د سوداګرو او پانګوالو بشپړ ملاتړ، د نشه یې توکو د کښت او همدارنګه د فساد له منځه وړلو ستاینه وکړه او زیاته یې کړه چې دوی چمتو دي چې له اسلامي امارت سره په ګډه په لویو بنسټیزو پروژو کې په ګډه کار وکړي او خپلې تجربې له افغانانو سره شریکې کړي.

د ازبیک پلاوي مشر ښاغلي کاملوف ډاډ څرګند کړ چې دوی پر ډېرو بنسټیزو پروژو سربېره چمتو دي چې د قوش تېپې له کانال څخه د اعظمي ګټې اخیستلو په موخه له اسلامي امارت سره د خپلو تخنیکي ټیمونو په واسطه ګډ کار او همکاري وکړي. د کاملوف په خبره، ازبیکستان چمتو دی چې د نړیوالو نورمونو په مراعاتولو او له پرمختللې ټکنالوژۍ په استفادې له آمو سیند څخه د اوبو حق اخیستلو او په بشپړ ډول د افغانستان امتیازاتو او حقوقو ته په پاملرنې له اسلامي امارت سره د قوش تېپې کانال د بشپړولو په اړه کار وکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبیک لوري ته ډاډ ورکړ چې قوش تېپې کانال به د افغانستان او ازبیکستان تر منځ دوه اړخیزې اړیکې پیاوړې او دغه دوه ګاونډي هېوادونه لا نږدې کړي. اسلامي امارت چمتو دی چې د یو ګډ تفاهم له لارې دغه حیاتي پروژه سرته ورسوي.

## له محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره د قزاقي پلاوي لیدنه

افغانستان د جغرافیوي موقعیت له مخې په وچې پورې تړلی هیواد دی او بهر ته مستقیمه لار نه لري. بهر ته د مستقیم نه لاسرسي له امله افغانستان کوښښ کوي چې د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې خپل ټول تمرکز پر ګاونډیو هېوادونو راټول او له دې لارې ځان د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره وصل کړي. له ګاونډیو هېوادونو سره پر سیاسي، ټولنیزو او امنیتي اړیکو سربېره د افغانستان لپاره اقتصادي او سوداګریزې اړیکې خورا مهمې او حیاتي دي.

افغانستان د خپل ستراتیژیک موقعیت له امله د ټولو ګاونډیو هېوادونو لپاره پر سوداګریز او ترانزیټ شریک سربېره د پلور یو ښه بازار هم ګرځېدلی دی. د منځنۍ اسیا هېوادونه او په ځانګړې توګه قزاقستان چې د زراعتي او صنعتي محصولاتو له مخې خودکفایۍ ته رسېدلی، اړتیا لري چې د خپلو صنعتي او کرنیزو محصولاتو لپاره مصرفي مارکېټ پیدا کړي، چې د اوس لپاره افغانستان د دوی د محصولاتو د لېږد او پلور ښه مارکېټ دی.

قزاقستان د افغانستان بازارونو ته د ازبیکستان، ترکمنستان او یوه اندازه د تاجکستان له ټرانزیټي لارو غنم، اوړه، غوړي او دغه راز برښنایي وسایل، زراعتي ماشین آلات او ساختماني وسایل او توکي صادروي. له دې سره سره چې افغانستان د قزاقستان لپاره یو ښه مصرفي مارکېټ دی، برعکس بیا قزاقستان د افغانستان د وچو او تازه مېوو او همدا راز د زعفرانو او بېلابېلو افغاني محصولاتو لپاره د بازارموندنې او له دې لارې نړۍ ته د خپلو محصولاتي توکو رسولو یوه ښه لار هم بلل کېږي.

پر کابل د اسلامي امارت له واکمنېدو سره د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیټ کچه د پخوا په پرتله څو چنده زیاته شوې او په دې برخه کې یې د اړیکو لا پیاوړي کولو او مؤثرو ګامونو اخیستلو ته زمینه برابره کړې. د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیټ کچې د زیاتولو په موخه د دواړو لورو ترمنځ څو ځلې لوړ رتبه پلاوو رسمي سفرونه هم کړي، چې ښه بېلګه یې د ۱۴۰۲ لمریز کال د حمل میاشتې په ۲۶مه نېټه د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر د مرستیال محترم سریک ژومانګارین په مشرۍ له راغلي پلاوي سره د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لیدنه ده.

د دغه لیدنې پر مهال دواړو لورو په سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو، ترانزیټي، اوسپنې پټلۍ او د بنسټیزو پروژو د تطبیق او عملي کولو په اړه خبرې وکړې او پر دې تاکید وشو، چې د داسې لویو پروژو په پلي کولو کې به قزاقي لورۍ له افغانستان سره هر ډول همکاري کوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند قزاقي لوري ته ډاډ ورکړ چې په افغانستان کې د ډاډمن امنیت او مرکزي حکومت په رامنځته کېدو سره د اوسپنې پټلۍ شبکو غځولو په څېر لویو پروژو کې د پانګونې له پاره ښه زمینه برابره شوې او اسلامي امارت د افغانستان او قزاقستان د اړیکو شالید او د اوسپنې پټلۍ شبکو پروژو د تطبیق په برخه کې د قزاقي لوري تجربې ته په کتو سره دوی ته د پانګونې حق اولویت ورکوي.

قزاقي لوري افغانستان ته د دوی د سفر اصلي موخه د سوداګریزو اړیکو پراختیا، د سوداګریزو ستونزو د ژر حل په موخه د ګډې ډلې رامنځته کول، افغان سوداګرو ته د ویزو اسانتیاوې برابرول، په دواړو هېوادونو کې بانکي څانګې پرانیستل او د افغان ټرانس په څېر بنسټیزو پروژو کې له افغانستان سره ګډ کار او په دغه پروژه کې اشتراک کول یاد کړل او زیاته یې کړه چې دوی په دې برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دي.

له یادې لیدنې وروسته د افغانستان د ریل پټلۍ ادارې، قزاقي لوري او پاکستان ترمنځ د افغان ټرانس پروژې د پیل او تطبیق په اړه څو ځلې درې اړخیزې غونډې جوړې شوې، چې په پایله کې یې د دغه پروژې مسیر د لوګر-ننګرهار پر ځای لوګر-پکتیا ته بدل شو. د یادې پروژې د مسیر په تغییرېدو سره ۱۲۶ کیلومتره لنډوالی راغی، شاوخوا ۷۰۰ میلیونه ډالره د لګښت سپما وشوه او د یو ماشین په واسطه د څو واګونو پر ځای د لسګونو واګونو انتقال ته زمینه برابره شوه. ټاکل شوې چې افغان ټرانس پروژه به تر ۲۰۲۷ میلادي کال پورې بشپړه شي چې په کلني ډول به له دې لارې ۱۵ میلیونه ټنه انتقالات ترسره کېږي او افغانستان ته به په کلني ډول به په میلیاردونو افغانۍ عواید ولري.

## د ایران له سفیر سره لیدنه

د ۱۴۰۲ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۱۱مه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د ایران له سفیر حسن کاظمي قُمي سره وکتل. په دغه لیدنه کې د ریاست‌الوزراء پر اقتصادي مرستیال سربېره د اقتصاد وزارت سرپرست قاري دین محمد حنیف او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست ملا خیرالله خیرخواه هم حضور درلود، د دغه لیدنې پر سیاسي او اقتصادي مسایلو او همدارنګه مختلفو برخو کې پر دوه اړخیزو همکاریو خبرې وشوې. محترم ملا صاحب د دغه لیدنې پر مهال ایراني لوري ته وویل چې افغانستان د هېڅ هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي او نه بل چا ته دا حق ورکوي، چې زموږ په کورنیو چارو کې مداخله وکړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، له لسیزو جګړو وروسته په افغانستان کې

خپلواک واحد نظام رامنځته شوی او د سیمې او په ځانګړي ډول له ګاونډیو هېوادونو سره سیاسي او اقتصادي اړیکې پراخې شوې دي. محترم ملا صاحب وویل پکار ده چې د یادو اړیکو د لا پیاوړي کېدو په موخه ایران او نور ګاونډي هېوادونه اساسي ګامونه واخلي او بل چا ته دا فرصت په لاس ور نه کړي، چې دغو اړیکو ته زیان ورسوي. په کابل کې د ایران سفیر ښاغلي قُمي د خپلو خبرو پر مهال وویل، ایران د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان ښه ګاونډی پاتې شوی او د دواړو هېوادونو د سیاسي او اقتصادي ګټو د خوندي کولو لپاره یې هر وخت هڅې کړې دي. ښاغلي قُمي زیاته کړه، تهران علاقمند دی چې له افغانستان سره پر اقتصادي، کرنیزو او صنعتي برخو سربېره د ریل پټلۍ شبکو غځولو کې هم همکاري وکړي. نوموړي وویل، په یادو برخو کې عملاً د دواړو هېوادونو تخنیکي ټیمونه پر مذاکراتو بوخت دي.

## د امریکا- افغانستان د سوداګرۍ خونې له استازو سره لیدنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان- امریکا سوداګرۍ خونې او د افغانستان سوداګرۍ شورا له لوري «د افغانستان سوداګریزې او اقتصادي اړیکې» تر سرلیک لاندې جوړ شوي کنفرانس کې ګډون او وینا وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په بهر کې مېشتو افغان او بهرنیو پانګوالو ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه، چې اوسمهال په افغانستان کې سرتاسري امنیت راغلی، د فساد پر وړاندې جدي مبارزه پیل شوې، د صادراتو ترڅنګ د وارداتو او ملي عوایدو کچه زیاته شوې، په کور دننه د خوراکي توکو په تولید کې زیاتوالی راغلی، د لویو پروژو چارې پیل شوې او همدارنګه صنعت، سوداګرۍ او ترانزیټ هم پرمختګ کړی. محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وویل چې اسلامي امارت د خصوصي سکټور د ملاتړ په موخه پر خامو موادو مالیه کمه کړې، صنعتي پارکونو پراختیا موندلې، د سوداګرۍ د پراختیا لپاره د لویو لارو بیارغونه پیل شوې او د اوسپنې پټلۍ له لارې له سیمې سره د افغانستان د نښلولو چارې هم جریان لري. محترم ملا صاحب دغه کنفرانس ته وویل چې له طبیعي سرچینو

بډایه هېواد، د پانګونې ملاتړې حکومت، ځوان، وړ او ارزانه کاري ځواک، د سیمه‌ییز اتصال له لارې نړیوالو بازارونو ته لاسرسی، د پانګونې لپاره پراخه چاپېریال او د پانګونې لپاره اسانه قوانین هغه موضوعات دي چې په افغانستان کې یې د پانګونې لپاره زمینه برابره کړې ده. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته ډاډ ورکړ چې په افغانستان کې د پانګونې د زمینې په برابرېدو سره نه یوازې افغانانو، بلکې بهرنیو پانګوالو ته هم فرصت برابر شوی او دوی کولی شي دلته د برېښنا، کانونو، زراعت، ټرانسپورټ، زېربناوو، ټکنالوژۍ او روغتیا ترڅنګ په ګڼو نورو سکټورونو کې هم پانګونه وکړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د ټولو پانګوالو لپاره د پانګونې اسانه قوانین رامنځته کړي او پر دې سربېره یې افغانستان ته د دوی د راتلو او دلته په بېلابېلو برخو کې د پانګونې او په دولتي ادارو کې له سرګردانۍ د خلاصېدو په موخه یوه بین‌الوزارتي کمېټه جوړه کړې، چې پانګوالو ته به ټول اړین معلومات او سهولتونه برابروي. محترم ملا صاحب نړیوال سیاست او حالاتو په اشارې سره وویل، چې د افغانستان په شاوخوا کې د سمندري سوداګریزو لارو امنیت ته په کتو د ځمکنیو لارو ارزښت ورځ تر بلې زیاتېږي، چې په دې سره به افغانستان د خپل جیوستراتیژیک موقعیت اهمیت په واقعي ډول پیدا کړي. په همدې موخه اسلامي امارت هڅه کوي چې د افغانستان سوداګریزې ټرانسپورټي لارې په اساسي ډول ورغوي او پر مټ یې له هغو ګاونډیو هېوادونو سره وصل شي، چې اوسمهال ورسره اتصال نه لري. اسلامي امارت هڅه کوي چې په ټول هېواد کې لویې لارې، سړکونه او د اوسپنې پټلۍ شبکې جوړې او پراخې کړي. په پای کې یو ځل بیا محترم ملا صاحب ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت یې بشپړ ملاتړ کوي او په دغه برخه کې ورته ټول اړین سهولتونه برابروي. په دغه کنفرانس کې پر افغان پانګوالو سربېره یوشمېر امریکایي او د ځینو نورو هېوادونو لسګونو پانګوالو هم ګډون کړی و، چې په افغانستان کې له راغلو عیني پرمختګونو یې ستاینه وکړه او په مختلفو برخو کې یې پانګونې ته لېوالتیا وښوده.

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سره د ازبیک پلاوي لیدنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړرتبه امارتي مسوولینو د ۱۴۰۲لمریز کال د عقرب میاشتې په ۷مه نېټه د ازبیکستان د لومړي وزیر د مرستیال محترم جمشید خوجه ییوف په مشرۍ له راغلي ازبیک پلاوي سره چې د کرنې، انرژۍ، اوبو مدیریت، کانونو او ترانسپورټ وزیرانو په ګډون د بېلابېلو سکټورونو استازو پکې حضور درلود، د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل. په دغه لیدنه کې دواړو لورو په سوداګریزو، ترانزیټي او اقتصادي اړیکو سربېره د اوسپنې پټلۍ، ترانسپورټ، په افغانستان کې د کانونو فني استخراج، د اوبو مدیریت، د کرنې پراختیا او همدارنګه په ازبیکستان کې افغان ځوانانو ته په بېلابېلو برخو کې د لوړو زده کړو زمینې برابرولو په اړه هراړخیز بحث وکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر مهال وویل، افغانستان او ازبیکستان د تاریخ په اوږدو کې دوه ښه ګاونډي هېوادونه پاتې شوي او هر وخت یې په امنیتي، سیاسي او اقتصادي برخو کې له یو بل سره همکاري کړې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، د دواړو هېوادونو ترمنځ د لوړپوړو پلاوو تګ راتګ ښيي چې زموږ دوه اړخیزې اړیکې د لا پراختیا په حال کې دي او په دې سره به وتوانېږو چې د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې ښه پرمختګونه ولرو. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د خپل اقتصاد محوره بهرني سیاست پر بنسټ غواړي چې د سیمې په ترانزیټ کې مرستندوی رول ولوبوي او د دې موخې ترلاسه کولو لپاره مو د لویو لارو پر بیارغونې سربېره لازمې اسانتیاوې برابرې کړې دي، چې دا به د سویلي او مرکزي آسیا هېوادونو په نښلولو کې ارزښتناک رول ولوبوي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، افغانستان د مرکزي آسیا هېوادونو سره د سوداګرۍ او ترانزیټ په موخه د ازبیکستان له مسیرونو څخه زیاته استفاده کوي. په دې مسیر کې د افغانستان پر محمولو باندې ترانزیټي فیس د نورو مسیرونو په مقایسه لوړ دی چې موږ یې د کمېدو غوښتنه کوو. د محترم ملا صاحب په خبره، ددې لپاره چې افغانستان او ازبیکستان د سوداګرۍ متوازن

بېلانس ولري ښه ده، چې ازبېکستان ته د افغانستان صادرات د پام وړ زیات شي او په دغه برخه کې ازبیکستان د افغانستان لپاره د ځانګړو ترجیحي تعرفو په نظر کې نیولو سره په ځینو مواردو کې له استثنایي دوستانه تعامل څخه کار واخلي. د ازبیک پلاوي مشر محترم جمشید خوجه ییوف د خپلو خبرو پر مهال وویل، ازبېکستان له فغانستان سره د کرنې، ترانسپورت، رېل پټلۍ، سوداګرۍ، ترانزیټ، اوبو مدیریت او کانونو په برخه کې ګډې همکارۍ ته چمتو دی او په دغه برخه کې به د دواړو لوریو تخنیکي کمېټې په ګډه سره کار وکړي. محترم خوجه ییوف زیاته کړه، ازبېکستان ته د افغانستان د صادراتو د زیاتولو په اړه ازبیک لوري د سوداګرۍ لارې نقشه جوړه کړې چې له مخې به یې د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ کچه شاوخوا درېیو میلیاردو ډالر ته ورسېږي. نوموړي همدا راز وویل چې دوی افغان سوداګرو او موټر چلوونکو ته د وېزو په ترلاسه کولو کې لازمې اسانتیاوې رامنځته کړې، په نېږدې راتلونکي کې به په تاشکند کې د افغاني محصولاتو نړیوال نندارتون جوړ کړي او همدارنګه چمتو دي چې په ترمذ کې افغان سوداګرو ته د سوداګرۍ یو لوی مرکز هم وسپاري.

پنځلسم څپرکی

# کورني سفرونه

## فراه او هرات ولایتونو ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفر

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۴۴ قمري کال د شوال المکرم میاشتې په ۲۹ مه نېټه د شنبې په ورځ چې د ۱۴۰۲ لمریز کال د ثور میاشتې له ۳۰مې نېټې سره برابره ده، لومړی فراه او وروسته هرات ولایت ته سفر وکړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال سره د دغه سفر پر مهال د اوبو او انرژۍ وزیر ملا عبداللطیف منصور او یو شمېر نورو لوړپوړو دولتي چارواکو هم ملتیا کوله. محترم ملا صاحب فراه ولایت ته د خپل سفر په لومړۍ ورځ بالابلوک ولسوالۍ ته لاړ او هلته یې د بخش آباد بند د تونلونو کیندلو پرانیسته وکړه. محترم ملا صاحب بخش آباد بند د فراه ولسونو لپاره یوه مهمه او حیاتي پروژه یاده کړه او دغو ولسونو ته یې د یادې پروژې د بشپړولو ډاډ ورکړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د فراه ولسونو ته په خطاب کې وویل چې ستاسې ستونزو ته رسېدنه، د بخش آباد په څېر د لویو پروژو پرانیسته او بشپړول چې ستاسې اقتصاد ورسره ښه کېږي، دا زموږ مسوولیت دی او اسلامي امارت پوره هڅه کوي چې په دې برخه کې ستاسې ټولې اړتیاوې پوره کړي. محترم ملا صاحب په افغانستان

کې د اسلامي نظام راتلو لپاره د فراه ولسونو له بې شمېره قربانیو او سرښندنو قدرداني وکړه او ډاډ یې ورکړ چې د فراه ولسونو ته د ارام او سوکاله ژوند برابرولو په موخه به د بخش آباد بند د پاتې چارو بشپړولو لپاره له ټولو شته امکاناتو کار واخلي. بخش آباد بند له ښي لوري د ۵۰ کیلو متره او له چپ لوري د ۵۲ کیلومتره کانال په لرلو د ٦۸ زره او ۵۹۰ هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو او همداراز د لسګونه میګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري چې پیل شوې چارې به یې په نېږدې راتلونکي کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپل سفر په دوهمه ورځ د مل پلاوي په ملتیا هرات ولایت ته لاړ او هلته یې د افغاني غالۍ جوړولو فابریکو څخه لیدنه وکړه. محترم ملا صاحب د یادو فابریکو له مسوولینو سره د هغوی د تولیداتو پر کیفیت، بازارموندنې، بهر ته یې د صادرولو پر اسانه لارو چارو او د هغوی د شته ستونزو پر حل خبرې وکړې. محترم ملا صاحب د دغو پانګوالو او صنعتکارانو د فعالیت ستاینه وکړه چې هېوادوالو ته د کاري زمینې برابرولو، د کورني صنعت د ودې او همدارنګه د هېواد په اقتصادي وده کې یې برخه اخیستې. محترم ملا صاحب دوی ته د اسلامي امارت له لوري د شته ستونزو د حل او په هره برخه کې د بشپړې همکارۍ او اسانتیاوو رامنځته کولو ډاډ ورکړ. په هرات کې د افغاني غالۍ جوړولو فابریکو مسوولینو د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال سره د لیدلو پر مهال خوښي څرګنده کړه، چې د اسلامي امارت په راتګ سره یې امنیت تأمین شوی، مالیې پرې راکمې شوې، بهر ته د افغانستان په نوم او نښان د خپلو محصولاتو د لېږلو په برخه کې اسانتیاوې رامنځته شوې او تر ډېره یې په وخت او ښه ډول ستونزو ته رسېدنه شوې. دوی یو ځل بیا ډاډ ورکړ چې د هېواد په اقتصادي بیارغونه کې له اسلامي امارت سره په ډېر اخلاص او صداقت اوږه په اوږه ولاړ دي او خوشاله دي چې نن د هېواد د آبادۍ لپاره ژمن او صادق مشران لري. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپل سفر په درېیمه ورځ د هرات د ۲۰۷ الفاروق قول اردو له مسوولینو سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال د هرات والي شیخ الحدیث مولانا نور احمد اسلام جار، د ۲۰۷ قول اردو قمندان مولوي نصرالله مطیع او مرستیال یې الحاج ملا

عبدالشکور بريالي هم حضور درلود. محترم ملا صاحب د هېواد په لوېديځ زون کې د امنيت تأمينولو په پار د ۲۰۷ الفاروق قول اردو د مسوولينو له ترسره شوو هڅه ستاينه وکړه او هغوی ته يې د لا قوي امنيت رامنځته کولو په موخه لازمې او اړينې سپارښتنې وکړې. د هېواد په لوېديځ زون کې د مېشت ۲۰۷ الفاروق قول اردو مسوولينو محترم ملا صاحب ته اطمينان ورکړ، چې په ډېر اخلاص سره د هېوادوالو امنيت ساتلو هڅه کوي او پرې به نېږدي چې د اسلام او افغانانو دښمنې او مخربې کړۍ په افغانستان او ځانګړې توګه لوېديځ زون کې راغلی امنيت ګډوډ کړي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند فراه او هرات ولايتونو ته له خپل درې ورځني سفر وروسته د دوشنبې په ورځ مازيګر مهال بېرته پلازمېنې کابل ته راستون شو.

## هرات ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د يو لوړپوړي امارتي پلاوي په مشرۍ د ۱۴۰۲ لمريز کال د ميزان مياشتې په ۱۷مه نېټه د دوشنبې په ورځ هرات ولايت د وروستۍ زلزلې له امله له زيانمنو شوو هېوادوالو سره د خواخوږۍ او بيړنيو مرستو رسولو په موخه سفر وکړ.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هرات ولايت ته له رسېدو سره سم لومړی تر غرمې مخکې د دغه ولايت د خصوصي سکټور له استازو، سوداګرو او صنعتکارانو سره وليدل او له زلزله ځپلو سره د دوی د شوو مرستو يې مننه وکړه. محترم ملا صاحب له دوی د لا نورې همکارۍ غوښتنه وکړه او زياته يې کړه، چې په دغه سخت وضعيت کې بايد د خپلو هېوادوالو د لاسنيوي په موخه په کور دننه او بهر کې هم مرستې راټولې کړي او په وخت يې مستحقو خلکو ته ورسوي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال هرات د خپل سفر په ترځ کې ماسپښين مهال زنده جان ولسوالۍ ته لاړ او هلته يې د زلزلې له امله زيانمنې شوې سيمې له نېږدې

وکتلې او زيانمنو شويو هېوادوالو ته يې تسليت او د خواخوږۍ مراتب وړاندې کړل. محترم ملا صاحب او مل پلاوي د شهيدانو په جنازه کې ګډون وکړ او هغوی ته يې د جنت الفردوس، قربيانو ته يې د جميل صبر او زخميانو ته د عاجلې شفاء دعا وکړه او د هرات له شريف ولس سره يې ځان په دغه لويه غميزه کې شريک وباله. محترم ملا صاحب وويل، اسلامي امارت د متضرر شويو هېوادوالو ترڅنګ ولاړ دی او تر هغو به يې همکاري او لاس‌نيوی وکړي، څو مو چې وران شوي کورونه بېرته ورغول شي او ژوند مو عادي حالت ته راوګرځي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپل سفر پر مهال د دوشنبې ورځ مازيګر مهال د هرات ولايت حوزوي روغتون ته د زخميانو د احوال پوښتنې په موخه لاړ او له نېږدې يې د هغوی احوال واخيست. محترم ملا صاحب ټولو زخميانو ته ډاډ ورکړ چې په ښه ډول به يې درملنه وشي او د دوی د درملنې په موخه يې ټولو طبي ټيمونو ته لازمې لارښوونې او هدايات کړي دي. محترم ملا صاحب د زخميانو د احوال اخيستو پر مهال وويل چې اسلامي امارت د ولس نظام دی او د دغه ولس خدمت خپل مسووليت ګڼي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دوشنبې ورځې ماښام د دغه ولايت په مقام کې په جوړه شوې غونډه کې ګډون او وينا وکړه. محترم ملا صاحب يادې غونډې ته د خپلو خبرو پر مهال وويل، د افغانستان اسلامي امارت د متضرر شويو هېوادوالو د ژغورلو لپاره ټول شته امکانات پر کار اچولي دي، ټول اړوند وزارتونه او ادارې پر دې لګيا دي چې دوی ته عاجلې مرستې ورسوي او تاسو ته ډاډ درکوو چې د وران شويو کورونو په بدل کې به په اساسي ډول د سرپنا ځايونه درته جوړ کړو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه چې ټولو امارتي مسوولينو ته مو لارښوونه کړې ده چې راټولې شوې مرستې په شفاف ډول پر مستحقو هېوادوالو ووېشي او په دغه برخه کې مو يو کمېسيون هم ګمارلی دی.

محترم ملا صاحب له ټولو هغو هېوادوالو څخه چې له زلزله ځپلو سره یې د خپل وس مطابق کمک کړی دی، مننه وکړه او یوځل بیا یې په ټولو ملي سوداګرو، شتمنو هېوادوالو، خیریه بنسټونو او موسسو غږ وکړ، چې په دغه سخت وضعیت کې د زلزله ځپلو هېوادوالو لاسنیوی وکړي او د هغوی ژوند وژغوري. محترم ملا صاحب همدا راز له نړیوالو مرستندویه بنسټونو او ادارو څخه هم وغوښتل چې له زلزله ځپلو افغانانو سره هر اړخیزه مرسته وکړي او د دې ستري غمیزې پر مهال یې لاسنیوی وکړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او مل پلاوی د ۱۴۰۲ لمریز کال د میزان میاشتې په ۱۸مه نېټه د سه‌شنبې په ورځ بېرته کابل ته راستون شو.

## بلخ ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفر

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د کابینې محترمو غړو او ګڼو امارتي او ملکي مسوولینو په ملتیا د ۱۴۰۲ لمریز کال د میزان میاشتې په ۱۹مه نېټه د چهارشنبې په ورځ د قوش‌تېپې کانال د لومړي فاز د ګټې اخیستنې او د دوهم فاز د چارو د پیل د پرانیستې په موخه سهار مهال د کابل له نړیوال هوایي ډګر څخه بلخ ولایت ته په سفر روان شول. محترم ملا صاحب او مل پلاوی تر غرمې مخکې د مولانا جلال الدین محمد بلخي نړیوال هوایي ډګر ته ورسېدل، چې هلته یې د ولایتي مسوولینو، علماوو او مشرانو له لوري تود هرکلی وشو. غرمه مهال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او لوړپوړی امارتي پلاوی د بلخ ولایت له نړیوال هوایي ډګر څخه د قوش‌تېپې کانال د لومړي فاز د ګټې اخیستنې د پرانیستې ځای ته لاړل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د قوش‌تېپې کانال د افغانانو د لسیزو خوب تعبیر دی، دا دې هغوی د ستړیاوو او خولو پایله او د ځان بسیاینې په لور د پورته کېدونکو ګامونو یوه بېلګه ده. محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال زیاته کړه، چې د دې کانال د پیل پر مهال ډېرې اندېښنې موجودې وې، خو د الله تعالی په ځانګړې نصرت او د ټولو

مسوولینو په کلک ملاتړ یې دا دي د لومړي فاز چارې بشپړې شوې.

محترم ملا صاحب گاونډیو هېوادونو ته اطمینان ورکړ چې د دغه کانال په جوړېدو سره به هېچا ته زیان ونه رسیږي، بلکې افغانستان به ورسره ښېرازه او خودکفا شي چې دا چاره د گاونډیو هېوادونو په گټه ده. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دا کانال د ټولو افغانانو ویاړ وباله او له هغوی څخه یې د کانال پاتې چارو بشپړولو په موخه د کلک ملاتړ غوښتنه وکړه.

دغه مراسم چې له لومړي فاز سره نږدې نیول شوي وو، پر امارتي مسوولینو سربېره یکې د بلخ، جوزجان، فاریاب، سمنگان او بغلان ولایتونو مسوولینو، علماوو، قومي مخورو او گڼ شمېر عامو خلکو گډون کړی و.

له غرمې وروسته ماسپښین مهال د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال او مل پلاوی د قوش‌تېپې کانال د دوهم فاز د چارو د پیل په موخه د بلخ ولایت دولت آباد ولسوالۍ ته لاړ او هلته یې د شاندارو مراسمو په ترڅ کې د دوهم فاز د جوړېدو چارو پرانیسته وکړه. محترم ملا صاحب دغو مراسمو ته وویل چې له لسیزو جگړو وروسته دا لومړی ځل دی چې په افغانستان کې داسې لویه پروژه د افغانانو له لوري ډیزاین، پلې او له کورنۍ بودیجې تمویلېږي. هغه زیاته کړه چې اسلامي امارت په خپل ټول توان سره د دغه کانال بشپړولو ته ژمن دی او هېچا ته به اجازه ورنه کړي، چې په چارو کې یې خنډ رامنځته کړي.

په یادو مراسمو کې د سیمې اوسېدونکو، قومي مخورو او علماوو د دغه کانال د لومړي فاز په بشپړېدو او د دوهم فاز په پیل سره خوښي څرگنده کړه او اسلامي امارت ته یې اطمینان ورکړ، چې دوی یې هر اړخیز او بشپړ ملاتړ کوي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او مل پلاوی د ۱۴۰۲ لمریز کال د میزان میاشتې په ۱۹مه نېټه د چهارشنبې په ورځ مازدیگر مهال له دولت آباد ولسوالۍ د مولانا جلال الدین محمد بلخي نړیوال هوایي ډگرته راوگرځېدل او ماښام بېرته کابل ته راستانه شول.

## د هېواد شمالي (پروان، بغلان او کندز) ولایتونو ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۹مه نېټه د ځینو لویو مهمو پروژو د پرانیستې او له یوشمېر صنعتي فابریکو څخه د لیدنې په موخه د هېواد شمال ته سفر وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد شمال ته د خپل سفر په ترڅ کې د ۱۴۰۲ لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۹مه نېټه د چهارشنبې په ورځ د سالنګ لویې لارې د تونل او ګالرۍ د ګټې اخیستنې پرانیسته وکړه.

محترم ملا صاحب د سالنګ لویې لارې بیارغونه لویه لاسته راوړنه یاده کړه او زیاته یې کړه چې دغه لویه لار د هېواد د شمال او جنوب د نښلولو ترڅنګ د جنوبي او منځنۍ اسیا هېوادونو ترمنځ د ترانزیټ په برخه کې هم مهم رول لوبوي، چې د ګاونډیو هېوادونو د سوداګریزو توکو په لېږد رالېږد کې به ډېرې اسانتیاوې رامنځته او له دې لارې به د سوداګریزې راکړې ورکړې حجم زیات شي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال هېوادوالو ته زېری ورکړ، چې اسلامي امارت په پام کې لري څو د امکاناتو په برابرېدو سره د سالنګ دوهم تونل هم جوړ او پر دې سربېره له حیرتان څخه تر تورخم پورې د اوسپنې پټلۍ لیکې هم وصل کړي. چې له دې سره به په سوداګرۍ او ترانزیټ کې د پام وړ زیاتوالی راشي.

د سالنګ تونل له پرانیستې وروسته محترم ملا صاحب په همدې ورځ (د ۱۴۰۲ لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۹مه نېټه د چهارشنبې په ورځ) کندوز ولایت ته سفر وکړ. هلته یې د یاد ولایت له مسوولینو سره ولیدل او هغوی ته یې د کارونو د ښه والي او د خلکو ستونزو ته د رسېدو په اړه لازمې سپارښتنې او هدایات وکړل.

د کندز له ولایتي مسوولینو سره تر لیدنې وروسته محترم ملا صاحب د کندوز سپین زر دولتي شرکت څخه هم لیدنه وکړه. محترم ملا صاحب د دغه دولتي شرکت د ماشینونو ترمیم او اساسي بیارغونه د صنعت په برخه کې مهم پرمختګ یاد کړ او مسوولینو ته یې د تولید کچې زیاتوالي او کیفیت په اړه لازمې سپارښتنې وکړې.

د یادونې وړ ده چې کندز سپین زر دولتي شرکت له تېر یو کال راپدېخوا په عصري تجهیزاتو سمبال شوی او د خامو موادو په برابرولو سره یې اقتصادي څرخ په حرکت راغلی دی، چې سلګونو کسانو ته پکې کاري زمینه هم برابره شوې ده. دغه شرکت اوسمهال د مالوچو، نباتي غوړیو، کنجاړې، د ځان او کالیو مینځلو صابون، کاغذي دستمالونو، موسمي یخ او په مختلفو اندازو د پلاستیکي بوتلونو د جوړولو په برخو کې تولیدات لري.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د قوس میاشتې په ۳۰مه نېټه د پنجشنبې ورځ سهار مهال له کندز څخه بغلان ولایت ته راوګرځېد او هلته یې د پلخمري نساجي او د بغلان بورې جوړولو له فابریکو څخه لیدنه وکړه.

محترم ملا صاحب د یادو فابریکو د ماشینونو ترمیم او د فعالیت پیل د صنعت په برخه کې یوه ښه لاسته راوړنه یاده کړه او مسوولینو ته یې د کارونو د لا ښه‌والي او تولید کچې زیاتوالي په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د قوس میاشتې په ۳۰ مه نېټه غرمه مهال په بغلان ولایت کې له شبرغان تر الوان دښتي او له الوان دښتي بیا د کابل تر ارغندۍ سیمې پورې د ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا مزي د غځولو پروژو د پیل پرانیسته وکړه.

په همدې موخه جوړو شوو مراسمو ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، اسلامي امارت د نورو له احتیاج څخه د خلاصولو او د صنعتي او اقتصادي افغانستان د

ودانولو کلک عزم کړی او له دې پاکې خاورې او غیور ولس سره ژمنه لري چې پر ځان د بسیا کېدو په لاره کې به هر ډول هلې ځلې کوي او له ټولو شته امکاناتو به کار اخلي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه چې برېښنا زموږ د هېواد یوه اساسي اړتیا ده، نو له همدې وجې اسلامي امارت د ډېرو بنسټیزو کارونو په پرتله دې برخې ته لومړیتوب ورکړی او له پانګوالو یې غوښتنه کړې، چې په دغه سکټور کې پانګونه وکړي.

له شبرغان تر الوان دښتې او له الوان دښتې بیا د کابل تر ارغندۍ سیمې پورې د ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا مزي د غځولو پروژو په بشپړېدو سره به شاوخوا ۱۰۰۰ میګاواټه برېښنا په ارزانه بیه افغانستان ته انتقال او په کلني ډول به ۲۰۰ میلیون ډالره سپما ولري.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د یادو ملي پروژو له پرانیستو او د صنعتي فابریکو څخه تر لیدنې وروسته د ۱۴۰۲ لمریز کال د قوس میاشتې په ۳۰مه نېټه پنجشنبې ماښام مهال بېرته کابل ته راستون شو.

## نیمروز ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفر

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د وري میاشتې په لومړۍ نېټه د لوړپوړي دولتي پلاوي په مشرۍ له کمال خان بند څخه د لیدنې او د دغه بند د پاتې کارونو د بشپړولو په موخه نیمروز ولایت ته سفر وکړ. د دغه سفر پر مهال د ریاست‌الوزراء له اقتصادي مرستیال سره د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوي امیر خان متقي، د اوبو او انرژۍ وزارت مرستیال محترم مجیب الرحمن عمر، د ملي پراختیا شرکت رئیس محترم عبدالرحمن عطاش او یوشمېر لوړپوړو دولتي چارواکو هم ملتیا کوله.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او مل پلاوي د کمال خان بند له بېلابېلو برخو او د دغه بند د توربینونو د نصبولو له بهیر څخه لیدنه وکړه چې د اوبو ذخېرې د ظرفیت زیاتوالي، د اړوندو کانالونو د پاک کارۍ او په ټوله کې د چارو د ښه مدیریت په اړه یې

اړوندو مسئولینو ته لازمې لارښوونې وکړې.

محترم ملاعبدالغني برادر اخوند کمال خان بند ملي او حیاتي پروژه وبلله او د رامنځته شویو نوښتونو له امله یې د مسؤلینو د هڅو قدرداني وکړه. محترم ملا صاحب د بند د پارچاوی او د اوبو کنټرول په اړه د تخنیکي انجنیرانو نظرونه واورېدل او په اړه یې د اوبو او انرژۍ وزارت مسؤلینو ته هدایت وکړ چې د ستونزو د حل په برخه کې ورسره همکاري وکړي.

د کمال خان بند پاتې کارونه د ملي پراختیا شرکت له لوري ترسره کیږي او د دغه شرکت مسؤلین وايي چې په نږدې راتلونکي کې به یې د فرعي کانالونو، توربینونو او د بند د بدنې پاتې کارونه بشپړ شي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له کمال خان بند څخه تر لیدنې وروسته د نیمروز له والي مولوي نجیب‌الله رفیع، د یاد ولایت له مسؤلینو او مجاهدینو سره وکتل. محترم ملا صاحب د نیمروز والي ته د دغه ولایت د خلکو د اوبو ستونزو د حل او کرنیزو ځمکو ته په وخت د اوبو رسولو په اړه لازمې سپارښتنې وکړې او ټولو مسؤلینو ته یې وویل چې په ډېر اخلاص او صداقت سره د خپل ولس خدمت وکړي.

## سرپل ولایت ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفر

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د قوس میاشتې په ۷مه نېټه په سرپل ولایت کې د آمو نفتي حوزې له ۸ نورو څاګانو څخه د نفتو د استخراج پرانیسته وکړه. په یادو مراسمو کې پر محترم ملا صاحب سربېره د کانونو او پټرولیم وزیر شیخ شهاب‌الدین دلاور او د سرپل ولایتي مسوولینو هم حضور درلود.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، اسلامي امارت د ټولو ولایتونو متوازن پرمختګ ته پاملرنه کړې او دا دي نن موږ په سرپل ولایت کې د یوې مهمې پروژې د پرانیستې شاهدان یو، چې لومړۍ

ګټه به يې د همدغه ولايت اوسېدونکو ته ورسېږي.

د محترم ملا صاحب په خبره، د دغه مهمې پروژې په پيل سره به په سرپل ولايت کې لوی مجهز روغتون، د خلکو له غوښتنې سره سم معياري سړک او همدا راز د اوبو بند هم جوړ شي، چې زرګونو کسانو ته به کاري فرصتونه برابر او د هېواد په اقتصادي وده او د عوايدو په زياتوالي کې به مهم رول ولوبوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له قراردادي شرکت وغوښتل څو د يادې پروژې کارونه د قرارداد مطابق په ښه ډول ترسره او د سرپل ولايت د اوسېدونکو اړتياوو ته په کتو په دغه ولايت کې عام‌المنفعه پروژې بشپړې کړي.

د يادولو وړ ده چې د آمو نفتي حوزې د ۱۸ نورو څاګانو په فعالېدو سره د نفتو د استخراج کچه په ورځني ډول ۱۳۵۰مترمکعب ته لوړه شوې. په آمو نفتي حوزه کې اوسمهال زرګونو کسانو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه هم برابره شوې ده.

شپاړسم څپرکی

# بهرني سفرونه

## ترکیې ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفر

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملاعبدالغني برادر اخوند په مشری لوړپوړي دولتي پلاوي د ۱۴۰۲ لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۷مه نېټه له ترکي چارواکو، پانګوالو، د پانګونې په برخه کې د فعالو بنسټونو له مشرانو او په ترکیه کې له مېشتو افغان پانګوالو سره د لیدنو په موخه ترکیې ته سفر وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکیې ته د خپل سفر په لومړی ورځ د دغه هېواد د بهرنیو چارو له وزیر ښاغلي هاکان فیدان سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال دواړو لورو د دوه اړخیزو مناسباتو، سیمه‌ییز اتصال او دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي او اقتصادي همکاریو د پراختیا په اړه بحث او خبرې وکړې. محترم ملا صاحب افغانستان او ترکیه د تاریخ په اوږدو کې دوه دوست او د ښو اړیکو لرونکي هېوادونه یاد کړل او زیاته یې کړه، چې اوسمهال د دغو اړیکو پراختیا ته ښه زمینه برابره شوې او اړتیا ده، چې دواړه لوري ترې ښه استفاده وکړي. محترم ملا صاحب له ترکي

لوري وغوښتل چې ترکي پانګوال په افغانستان کې پانګونه وکړي او همدا راز افغانانو ته د وېزو په ورکړه کې لازمې آسانتیاوې رامنځته کړي.

د ترکیې بهرنیو چارو وزیر ښاغلي هاکان فیدان د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ته د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزو سیاسي او اقتصادي همکاریو د پراختیا په اړه ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه، چې د پانګونې او افغانانو ته د وېزو ورکړې په برخه کې به اړوندې ادارې په ګډه سره کار وکړي.

دغه راز محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکیې ته د خپل سفر په دوهمه ورځ د ترکیې د بهرنۍ سوداګرۍ بورډ (DEIK) له رئیس ښاغلي نایل اولپک او له یوشمېر ترکي پانګوالو سره وکتل. په دغه ناسته کې د هغو ترکي او نړیوالو کمپنیو رئیسانو او استازو هم ګډون کړی و، چې د سیمې او نړۍ په کچه د زېربناوو جوړولو، د کانونو استخراج او پروسس، د کرنې میکانیزه کولو، د برېښنا تولید، اوسپنې پټلۍ شبکو غځولو، د درملو او خوراکي توکو د تولید، سوداګرۍ، مخابراتو او د سیاحت په برخه کې کاري او د پانګونې اوږده مخینه لري. محترم ملا صاحب ترکي پانګوالو ته ډاډ ورکړ چې په افغانستان کې د سرتاسري امنیت په ټینګېدو سره د کانونو، کرنې، برېښنا، زېربناوو، صنعت، مخابراتو، سوداګرۍ او نورو بېلا بېلو برخو کې پانګونې ته آسانتیاوې برابرې شوې او اسلامي امارت د پانګوالو بشپړ ملاتړ کوي.

په دغه غونډه کې ګډون کوونکو ترکي پانګوالو په افغانستان کې پانګونې ته بشپړه لېوالتیا وښوده او څرګنده یې کړه چې له شته فرصتونو به د دواړو هېوادونو په ګټه استفاده وکړي.

همدا ډول د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکیې ته د خپل سفر په درېیمه ورځ په دغه هېواد کې د مېشتو افغان پانګوالو له لوري په جوړ شوي کنفرانس کې ګډون او وینا وکړه. محترم ملا صاحب افغان پانګوالو ته په افغانستان کې د اسلامي امارت له لوري د ټینګ شوي سرتاسري امنیت په اړه ډاډ ورکړ او زیاته

یې کړه، چې واک ته د اسلامي امارت په رسېدو او د امنیت په ټینګېدو سره په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې د پانګونې زمینه برابره شوې ده. محترم ملا صاحب همدا راز وویل چې د اسلامي امارت له لوري د ملي سوداګرو او پانګوالو د سر او مال امنیت په ښه ډول خوندي شوی او اوسمهال په ډاډمنه فضا کې خپل کاروبار کوي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په ترکیه کې د مېشتو افغان پانګوالو له لوري په جوړ شوي کنفرانس کې وویل، چې په افغانستان کې د واحد مرکزي نظام په راتلو سره نه یوازې افغانانو، بلکې بهرنیانو ته هم د پانګونې زمینه برابره شوې، چې ښه بېلګه یې د هرات د غوریانو په معدن کې له افغانانو سره د اروپایي او آسیایي پانګوالو په مشارکت د قراردادونو ترلاسه کول او پانګونه ده. محترم ملا صاحب په ترکیه کې له مېشتو افغان پانګوالو سره په لیدنه کې هغوی ته ډاډ ورکړ، چې افغانستان له سمتي، قومي او ژبني تعصب پرته د ټولو افغانانو ګډ کور دی او ټول یې د آبادولو مسؤلیت لرو.

په ترکیه کې مېشت افغان پانګوالو په افغانستان کې د اسلامي نظام په راتلو، د سرتاسري امنیت په ټینګېدو او د پانګونې لپاره د اسانه شرایطو پر رامنځته کېدو خوښي څرګنده کړه او ویې‌ویل چې دوی به له خپل ولس سره په ګډه د هېواد د آبادۍ لپاره کار وکړي.

همدارنګه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکیې ته د خپل سفر په څلورمه ورځ د دغه هېواد د سوداګرۍ له وزیر ښاغلي عمر بولات سره وکتل. د دغه کتنې پر مهال دواړو لوریو د سوداګرۍ، پانګونې، سیمه‌ییز اتصال او دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په اړه خبرې وکړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه لیدنې پر مهال له ترکیې سره د سوداګریزو اړیکو پر پراخوالي، په صنعتي پارکونو کې پر پانګونې، د متوسطو او کوچنیو کاروبارونو پر پراختیا، د دواړو هېوادونو ترمنځ د هوایي دهلېز پر پرانیستلو، د نندارتونونو پر جوړېدو، د سوداګریزو خونو پر ګډې همکارۍ، د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډې سوداګریزې خونې پر جوړولو او د ترکي پانګوالو له لوري په افغانستان کې د پانګونې پر زیاتوالي هر اړخیزې خبرې او ټینګار وکړ.

د ترکیې د سوداګرۍ وزیر ښاغلي عمر بولات د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ته د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د پراختیا او په افغانستان کې د ترکي پانګوالو له لوري د پانګونې د هڅونې ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه چې په دې اړه به اړوندې ادارې په ګډه سره کار وکړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکیې ته د خپل سفر په پنځمه ورځ د افغانستان د پانګونې او سوداګرۍ خونې او د ترکیې د صنعت‌کارانو او سوداګرو د غیر دولتي ټولنې موسیاد (MUSIAD) له لوري په جوړه شوې غونډه کې ګډون وکړ.

په دغه غونډه کې، چې د ترکیې د صنعت‌کارانو او سوداګرو د غیر دولتي ټولنې موسیاد رئیس ښاغلي محمود آسمالي او یو شمېر ترکي او افغان پانګوالو پکې ګډون کړی و محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکي پانګوال په افغانستان کې پانګونې ته راوبلل او زیاته یې کړه چې په افغانستان کې د پانګونې شرایط اسانه شوي او ترکي پانګوال دې له دې فرصته پوره استفاده وکړي.

ورپسې د موسیاد ټولنې مشر ښاغلي محمود اسمالي ترکي پانګوال په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې پانګونې ته وهڅول او زیاته یې کړه چې له دې فرصته د استفادې کولو په موخه دې ترکي پانګوال افغانستان ته لاړ شي. ښاغلي محمود زیاته کړه چې په افغانستان کې د سرتاسري امنیت په ټینګېدو سره په مختلفو برخو کې د پانګونې اسانتیاوې رامنځته شوې دي.

په دغه غونډه کې پر افغان او ترکي پانګوالو سربېره د هغو لویو شرکتونو او بېلابېلو سکټورونو رئیسانو او استازیو هم ګډون کړی و، چې د برېښنا تولید، کرنې، مخابراتو، زېربناوو جوړولو، اوبو بندونو، د ساختماني توکو او لوجستیکي خدماتو وړاندې کولو په برخو کې بریالۍ کاري تجربه لري.

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړی دولتي پلاوی ترکیې ته له شپږ ورځني سفر وروسته د ۱۴۰۲ لمریز کال اسد میاشتې په ۲۳ مه نېټه د دوشنبې په ماښام بېرته کابل ته راستون شو.

## ایران ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفر

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړ رتبه امارتي پلاوي د ۱۴۰۲ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۳مه نېټه د شنبې په ورځ د ایران اسلامي جمهوریت ته د دې هېواد په رسمي بلنه سفر وکړ.

## د ایران د ولسمشر له لومړي مرستیال سره لیدنه

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته له رسېدو سره سم د ایران د ولسمشر له مرستیال ښاغلي محمد مخبر سره وکتل. په دې کتنه کې دواړو لوریو د افغانستان او ایران ترمنځ د سیاسي-اقتصادي تعامل پر پیاوړتیا، د سیمې او نړۍ پر سیاسي وضعیت او همدارنگه په فلسطین کې د اسرائیلو د ظالم رژیم له لوري د ترسره شوو جنایتونو په اړه بحث او خبرې وکړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل، د شل کلن امریکایي اشغال له پای ته رسېدو وروسته افغانستان په خپلو ټولو چارو کې خپلواک دی او د خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو په پام کې نیولو سره له گاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو سره تعامل ته را وړاندې شوی دی.

د ایران د ولسمشر مرستیال ښاغلي محمد مخبر د خپلو خبرو پر مهال وویل، ایران له افغانستان سره د خپلو اړیکو پراخولو ته لېواله دی او غواړي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي، اقتصادي، سوداگریزو او ترانزیتي اړیکو د پراخولو او د دواړو ملتونو د هوساینې لپاره په مشترکه کار وکړي.

## د ایران د بهرنیو چارو له وزیر سره لیدنه

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل سفر په ترڅ کې د ایران د بهرنیو چارو له وزیر حسین امیر عبداللهیان سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال دواړو لورو د دوه اړخیزو مناسباتو، سیمه‌ییز اتصال او دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په باب بحث او خبرې وکړې.

## د ایران د ملي امنیت شورا له رییس سره لیدنه

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دغه هېواد ته د خپل سفر پر مهال د ایران د ملي امنیت شورا له رییس علي اکبر احمدیان سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال دواړو لورو پر سیاسي او اقتصادي اړیکو سربېره د دواړو هېوادونو ترمنځ په سرحد کې پر ښې همغږۍ، د اوبو مدیریت، ترانزیټ او د ایران له لارې د افغانستان د صادراتو او وارداتو د زیاتوالي په اړه بحث او خبرې وکړې.

د محترم ملا صاحب په خبره، افغانستان او ایران خپل ستراتیژیک موقعیت ته په کتو سره دوه ښه اقتصادي شریکان جوړېدای شي او اړتیا ده چې د دغه موخې ترلاسه کولو لپاره دوه اړخیزې همکارۍ لا زیاتې او تخنیکي ټیمونه په ګډه سره کار وکړي. د ایران د ملي امنیت عالي شورا رئیس ښاغلي احمدیان د خپلو خبرو پر مهال د دواړو هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د ګډو همکاریو پر زیاتوالي ټینګار وکړ.

## د ایران د کورنیو چارو له وزیر سره لیدنه

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د یاد هیواد د کورنیو چارو له وزیر احمد وحیدي سره وکتل. محترم ملا صاحب د دغه لیدنې پر مهال وویل، نن ښه فرصت برابر شوی څو دواړه دوست هیوادونه په اقتصادي او امنیتي برخو کې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي، ځکه یو باثباته او پرمختللی افغانستان د سیمې او نړۍ په ګټه دی.

د ایران د کورنیو چارو وزیر ښاغلي وحیدي د خپلو خبرو پر مهال وویل، د سرحداتو پیاوړتیا، د مخدره توکو پر وړاندې ګډه مبارزه، د سرحدي پوستو پیاوړتیا او په سرحدي سیمو کې د دواړو هیوادونو د وګړو د ژوند ښه والی د ایران لومړیتوب دی او د همدې موخې لپاره مؤثرې هڅې کوي.

## د ایران د انرژۍ له وزیر سره لیدنه

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل سفر په ترڅ کې د دې هېواد د انرژۍ له وزیر ښاغلي علي اکبر محرابیان سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال دواړو لورو د اوبو مدیریت، د کرنې په برخه کې د اوبولګونې له پرمختللو سیستمونو څخه پر استفادې او په دواړو هېوادونو کې د وچکالۍ پر وړاندې د ګډې همکارۍ د زیاتوالي په اړه بحث او خبرې وکړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ایراني لوري څخه وغوښتل چې له افغانستان سره په کور دننه د برېښنا د تولید په برخه کې خپلې تجربې شریکې او تخنیکي همکاري وکړي.

د ایران اسلامي جمهوریت د انرژۍ وزیر ښاغلي علي اکبر محرابیان د ایران او افغانستان له لوري د وچکالۍ پر وړاندې د ګډې مبارزې، په افغانستان کې د برېښنا تولید په برخه کې د ایران پر همکارۍ او د پانګونې په برخه کې افغان پلاوي ته د همکارۍ ډاډ ورکړ.

## د ایران د کرنې له وزیر سره لیدنه

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او مل پلاوي ایران ته د خپل سفر په ترڅ کې د دغه هېواد د کرنې له وزیر محمد علي نېکبخت سره وکتل. په دې کتنه کې د دواړو هېوادونو لوړ رتبه مسوولینو په افغانستان کې د کرنې پر میکانیزه کولو، د کوکنارو د بدیلو کښتونو په برخه کې پر مرستې، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ په برخه کې پر افغان ظرفیت جوړونې او پر افغان کرنیزو محصولاتو د تعرفې کمولو په اړه هراړخیزې خبرې وکړې.

## په ایران کې د مېشت افغان پانګوالو له لوري په جوړ شوي کنفرانس کې ګډون

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل سفر پر مهال په دغه هېواد کې د مېشت افغان پانګوالو له لوري په جوړ شوي کنفرانس کې ګډون وکړ. یاد کنفرانس ته د خبرو پر مهال وویل، په تېرو شلو کلونو کې د افغانانو او په ځانګړي ډول ملي سوداګرو او پانګوالو د سر او مال امنیت خوندي نه و، خو له نېکه‌مرغه د اسلامي امارت په راتګ سره یې امنیت خوندي شوی او اوس په ډاډمنه فضا کې خپل کاروبار کوي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، په افغانستان کې د سرتاسري امنیت په راتلو سره نه یوازې افغانانو، بلکې بهرنیو پانګوالو ته هم د پانګونې زمینه برابره شوې. محترم ملا صاحب وویل، زه په ایران او نوره نړۍ کې پر مېشتو ټولو افغان کادرونو، ملي سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو غږ کوم، چې خپل هېواد ته راستانه راشي او دلته په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي.

## په تهران کې د افغانستان له سفارت څخه لیدنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په تهران کې د افغانستان له سفارت د لیدنې پر مهال وویل، د تېرو ۴۰ کلونو پر مهال افغانان په بهرنیو هېوادونو کې له ډېر ستونزو سره مخ وو او په ښه ډول یې ستونزو ته رسېدنه نه کېده، خو نن الحمدلله په افغانستان کې یو داسې نظام واک ته رسېدلی چې هغه په رښتیني مانا د دغه ولس خدمت کوي او په دغه برخه کې خپلو مسوولیتونو ته متوجې دی. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د افغان ولس هوساینه او رضایت زموږ یوازینۍ هیله ده او تاسې هر مسوول کس باید نهایي کوښښ وکړئ څو د هېوادوالو ستونزو ته په ښه ډول رسېدنه وکړئ.

## د ایران د ټکنالوژۍ او تخنیک له ننداړتون څخه لیدنه

محترم ملا صاحب له دغه ننداړتون د لیدنې پر مهال وویل، ایران د افغانستان یو

ښه ګاونډي پاتې شوی او د تاریخ په اوږدو کې یې په بېلابېلو برخو کې له افغانانو سره همکاري کړې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، موږ له ایران اسلامي جمهوریت څخه غواړو چې د ټکنالوژۍ او تخنیک په برخه کې افغان محصلینو او زده کوونکو ته د زده کړو فرصتونه برابر کړي.

## د چابهار بندر له مسوولینو سره ځانګړې ناسته

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له چابهار بندر څخه د لیدنې پر مهال په ځانګړې غونډه کې له لوړرتبه ایراني مسوولینو سره وکتل. محترم ملا صاحب له ایراني لوري وغوښتل څو په چابهار بندر کې افغانستان ته د اوږدمهال لپاره په مناسبه بیه ځمکه ځانګړې کړي، د دغه بندر له لارې د افغانستان د صادراتو او وارداتو په زیاتوالي کې لازمې اسانتیاوې رامنځته کړي او افغانستان ته له چابهار بندر څخه د استفادې لپاره سهولتونه برابر کړي.

ایراني لوري وویل، افغانستان کولای شي سر له اوسه د چابهار بندر څخه د صادراتو، وارداتو او ترانزیټ عملاً استفاده پیل کړي او ایران په دغه برخه کې بشپړ چمتووالی لري.

## په چابهار نړیوال پوهنتون کې له افغان محصلینو سره لیدنه

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل رسمي سفر په ترځ کې په چابهار نړیوال پوهنتون کې له افغان محصلینو سره وکتل. محترم ملا صاحب د یادو محصلینو له هڅو او زده کړو ستاینه وکړه او وویل، چې دا یو ښه فرصت دی چې تاسو ته په بهر کې د زده کړو زمینه برابره شوې ده، نو پکار ده چې له دې په لاس راغلي فرصت څخه ښه استفاده وکړئ او په راتلونکي کې د خپل هېواد په آبادۍ کې خپل مسوولیت په ښه ډول ادا کړئ.

## کابل ته راستنېدنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړی امارتي پلاوی ایران ته له خپل شپږ ورځني سفر وروسته د ۱۴۰۲لمریز کال د

عقرب میاشتې په ۱۹مه نېټه د جمعې په ورځ ماښام مهال بېرته کابل ته راستون شو.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په کابل نړیوال هوایي ډګر کې خبري کنفرانس ته د خپلو خبرو پر مهال وویل: «ایران ته مو د خپل سفر پر مهال له لوړپوړو ایراني مسوولینو سره وکتل او پر هغه سربېره مو له چابهار بندر او یوشمېر صنعتي او تولیدي فابریکو څخه هم لیدنه وکړه. زموږ د سفر موخه دا وه څو بهرنیو هېوادونو ته د افغاني توکو د صادراتو او وارداتو د رسولو اسانه او ارزانه لار پیدا کړو چې په دې سره به د افغانستان سوداګري زیاته شي.» محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال زیاته کړه، د دغه سفر پر مهال مو د ایران له حکومت او خصوصي سکټور سره په بېلابېلو برخو کې یوشمېر تفاهمنامې لاسلیک کړې، چې دا د دواړو هېوادونو لپاره په صنعت او سوداګرۍ کې لویه لاسته راوړنه ده.

# د ۱۴۰۲ لمریز کال په جریان کې د ملي تدارکاتو کمېسیون کارونو ته ځغلنده کتنه

**۱۴۰۲ لمریز کال؛ ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۴۰ میلیاردو افغانیو په ارزښت ۱۴۲ بېلا بېلې او نیمګړې پروژې منظورې کړې دي.**

- د ازادې داوطلبۍ له لارې د منظور شوو پروژو په قراردادونو کې شاوخوا درې میلیارده افغانۍ سپما شوې؛
- د منظور شوو پروژو له لارې زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شوي
- د منظور شوو پروژو په تدارکاتي پروسو کې شفافیت رامنځته او فساد ختم شوی؛
- ټولې منظور شوې پروژې د ازادې داوطلبۍ له لارې اعلان ته سپارل شوې
- د ولایتونو متوازن انکشاف او د هېوادوالو اړتیاوو ته په کتو سره مهمو پروژو ته لومړیتوب ورکړل شوی دی؛
- د منظور شوو پروژو په تطبیق کې د کورنیو تولیداتو کارونې ته لومړیتوب ورکړل شوی.

**سکتورونه**

- بیارغونه
- کرنه او د کلیو پراختیا
- روغتیا
- برېښنا
- ترانسپورټ
- دځښاک اوبه، د ښارونو اړوند زېربنا او خدمات
- مخابرات
- زېربنا

**د پروژو پلي کولو ځایونه:**

بېلا بېل ولایتونه

**تمویل کوونکی:**

د افغانستان اسلامي امارت

# په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د سوالګرو راټولولو کمېټې کارونو ته ځغلنده کتنه

د سوالګرو راټولولو کمېټه: د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ۱۴۰۲ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۶مه نېټه په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو کمېټې د غړو وزارتونو او ادارو ترمنځ په مرمرینه ماڼۍ کې ګډه غونډه ترسره شوه. محترم ملا صاحب ټینګار وکړ چې له کابل ښار څخه دې په بشپړ ډول سوالګر راټول شي او تر ارزونې وروسته دې بې سرپرسته مستحقو سوالګرو ته په دوامدار ډول د نقدو او خوراکي توکو د مرستو رسولو لړۍ جاري وساتل شي. محترم ملا صاحب زیاته کړه چې اسلامي امارت د غریبو هېوادوالو او په ځانګړي ډول د سوالګرو ستونزو ته رسېدنه کوي او هڅه کوي چې د هغوی ستونزې حل او د یو سوکاله ژوند زمینه ورته برابره کړي. همدا راز محترم ملا صاحب د دغه کمېټې ټولو مسوولینو او په ځانګړي ډول د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته لارښوونه وکړه څو د يادې کمېټې د کړنلارې مطابق خپل مسوولیتونه په ښه ډول ترسره کړي. په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو کمېټې له لوري پرېکړه وشوه، چې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت دې د جمعې لمانځه په خطبو کې د دغه عمل د دنیوي او اخروي زیانونو په اړه خلکو ته عامه پوهاوی ورکړي او د دغه پروسې مؤثریت په موخه دې خپل استازي یادې کمېټې ته ورمعرفي کړي.